کوی او عقل بیکاره کوي.

دغه رنګ یو سړی د رسول د خدای نه د شرابو د یو قسم په هکله تپوس وکړ. کوم چی به دوی په یمن کښی څښل او کوم چی به د جوارو نه جوړیدل. رسول د خدای تری تپوس وکړو. چی آیا دا سړی نشه کوي؟ هغه ورته ووی: هو. دوی ﷺ وفرمایل : هر نشه کوونکی څیز حرام دی.

اوس راځئ چی هغه څیزونه واخلو کوم چی د شرابو په رنګ څښلی کیږی نه ولی استعمال یی عقل بیکاره کوي. او هغومره نقصان ده دی څومره چی شراب دي. لکه چرس، افیم، بنګ او د افیمو نه جوړ څیزونه لکه هیروین یاد نشی ستنی . دا ټول اشیا په متفقه ډول حرام دي. ځکه چی دا هم نشه کوونکی دي.

رسول الله ﷺ د خدای فرمایلی دي: کل مسکر خمر و کل خمر حرام.

هر نشه کوونکی څیز د شرابو په حکم کښی دی او ټول شراب حرام دي.

ددی حدیث په رڼا کښی یو وار د مصر د یو مفتی نه د چرسو، بنګو، افیمو او نشی د ستنو په هکله تپوس وشو. سوال داسی وو :

۱ – ددی اشیاؤ خوراك، څښاك، لوګی راښکل یا ستنی لګول څنګه دی؟

۲ – ددی اشیاؤ تجارت حرام دی او که حلال ؟

۳ – خشخاش، چرس او بنګ کرل څنګه دی؟ او ددی نه چی کومه نشه کوونکی اشیا جوړیږي، کوم چی خلق استعمالوی یا یی خرڅوی ، هغه څنګه دی ؟

٤ – ددی اشیاؤ خرڅ او ددی ګټه وټه حلاله ده او که حرامه ؟

مفتي صاحب ددی سوال په جواب کښې وويل :

په دی کښې هيڅ شك نشته چی دا ټول اشيا ددی استعمال، ددی خوراك، ددی څښل، ددی لوګی راښکل او ددی ستنی لګول قطعاً حرام دی ځکه چی ددی په استعمال د انسان وجود ته بی کچه نقصان رسي. دا د سړی عقل فاسدوی او وجود ته هم ډير زيات نقصان ورکوي. دا د انسان اعصابی نظام هم مفلوج کوي.

هم دا وجه ده چی علما وايی چی څوك حشيشو ته حلال وايی هغه زنديق دی - اود عبدالله بن عمر (رض) د حديث مطابق دا ټول څيزونه سړی نشه کوی نو ځکه د شرابو په رنګ حرام دي. نو نتيجتاً ددی اشياؤ خوړل، څښل، لوګی راښکل يا ددی ستنی لګول حرام دي.

تر څو چی ددی اشياؤ د تجارت تعلق دی نو چی کله ددی اشياؤ استعمال حرام دی نو تجارت يی هم حرام دی. رسولﷺ د خدای ويلی دی :

«ان الله حرم بيع الخمر والميتة والخنزير والاصنام».

ترجمه : الله تعالی د شرابو، مرداري، خنزير او بتانو خرڅ يعنی تجارت حرام ګرځولی دی.

دغه رنګ په نورو ډيرو احاديثو کښې راغلی دی چی د کومو اشياؤ استعمال ممنوع او حرام دی. د هغی اخيستل او خرڅول او د هغی ګټه هم حرامه ده په دی وجه ددی نه دا خبره په پوره ډول ثابتيږی - چی د شرابو او نورو نشه کوونکو اشياؤ په حکم کښې هغه ټول اشياء شامل دي، د کومو چی اګاهو شوی دی يعنی چرس، افيم، بنګ، هيروئين و غيره.

تر څو چی د تجارت په خاطر ددی اشیاؤ ذکر تعلق دی. نو کله چی کاشتکارو ته دا خبره معلومه وي. چی ددی نه به د نشی څیزونه جوړولی شي. نو د حدیث شریف د مضمون مطابق دا هم حرام ګرځي. د حضرت ابن عباس (رض) د روایت مطابق رسولﷺ د خدای فرمایلی دی چی چا انګور په دی وجه په ونه کښی وساتل یا د ځان سره کیښودل چی په هغه چایی ګران خرڅ کړی څوك چی تری نه شراب جوړوی نوڅان یی د دوزخ کندی ته وغورځولو.

(عن ابن عباس (رض)عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ان من حبس العنب ايام القطاف يبيعه لمن يتخذهُ خمراً فقد تقحم النار).

هم دا حدیث شریف د افیمو او حشیشو په کر هم پابندی لګوي. ځکه چی دا خو هم ددغی مقصد دپاره کرلی شي. او دا پابندی د دلالة النص نه ثابتیږي.

ددی اشیاؤ په کر کښی دا خبره هم ده. چی دا د ګناه په کار کښی د بل سره مدد کول دی . ځکه چی ددی نه خو هم هغه څیزونه جوړیږی د کومی ذکر چی وړاندی وشو. خدای پاك په قران مجید کښی وایی :

(ولا تعاونو على الاثم والعدوان).

ترجمه : په ګناه او سرکشی کښی د چا سره تعاون مه کوی. ګویا چی په ګناه کښی د چا سره تعاون کول داسی دی لکه چی سړی هغه ګناه په خپله کوي.

دغه رنګ هر کاشتکار چی دا اشیاء کری نو دا دده د اړخ نه په دی خبره رضا مندی ښکاره کول دی چی ددی اشیاؤ نه د نشی ځیزونه جوړ کړی شي. او د هغی تجارت داو شي. او دا د ګناه کار دی. او د ګناه په کار ضامندی ښکاره کول بذات خود ګناه کار دی.

ددی اشیاؤ نه چی کومه ګټه کولی شی یا ددی د خرڅ نه چی کوم رقم حاصلولی شی هغه هم حرام دی.

رسوالله ﷺ وئیلی دی :

(ان الله اذا حرم شئیاً حرم ثمنهُ).

الله تعالی چی کوم اشیاء حرام کړی دی و د هغی قیمت او ګټه ئی هم حرام کړی دي.

الغرض حشیش، افیم، کوکین او ددی په رنګ نور ټول د نشی اشیاء حرام دي، ددی تجارت هم حرام دی. کر ئی هم حرام دی. او ګټه ئی هم حرامه ده.

تر څو چی د تماکو د حرمت تعلق دی. نو ددی په هکله هم علمای دین او علمای طب په دی نتیجه رسیدلی دی چه تماکو استعمالول په حقیقت کښی ځان په خپله هلاك کول دي.

خدای پاك په قران شریف کښی فرمایی:

(ولا تلقوا بایدیکم الی التهلکة).

ځان په خپله مه هلاك کوی.

د تماکو استعمال په وجود کښی داسی ناروغتیاګانی را پیدا کوي. کومی چی د انسان د هلاکت سبب ګرځي. نو د تماکو استعمال هم ددي آیت په حکم کښی راځي. او کله چی د تماکو استعمال د انسان د هلاکت سبب ګرځی

نو بیا د تماکو کر او تجارت هم حرام گرځي. زموږ ځمکی ډیری ځربی ځمکی دی په دی کښی داسی اشیاء ولی کرلی شي، کوم چی زموږ د هلاکت باعث گرځي.

دغه رنگ سگریت څښل او تماکو کرل چی سگریت تری نه جوړیری هم ددی آیت په حکم کښی دی چی(و لا تقتلو انفسکم). خپل ځانونه مه وژنی.

گویا چی سگرت څښل د انسان د ځان او دده د نسل د هلاکت اسباب گرځي. د نسوارو په هکله هم ځنی عالمان ددی آیت نه استدلال کوی . او وایی چی نسوار خو هم د وجود دپاره ډیر نقصانی دي. د غاښونو دپاره مضر دي. د خلی نه سخا بوی راځي. خوله صفا نه وي. نسواری سړی هر وخت ځای بی ځایه لاری توکي. نو گندگی خوریږی او دا د نظافت د اصولو نه خلاف دي. دا په معده هم خراب اثر غورځوی نو دا هم ددی آیت په مفهوم کښی راځی او په تیره تیره دا د مار د زهرو نه هم تیز دي. نو په دی ځان وژل عقلمندی نه ده. دغه رنگ چی په دی کوم مال خرڅ کولی شی هغه د مال ضیاع ده. او د مال ضیاع په شریعت کښی گناه ده.

والسلام

د نشه ای شیانو نړیوالی معاهدی او قرار دادونه

International Conventions on Drugs

د نشه ای موادو د نړیوال کنترول تاریخی پس منظر:

د نشه ای موادو کنترول په برخه کښی نړیواله همکاری ددی پیړۍ په سر کی یعنی په ۱۹۰۹ کال کی کله چی د نارکوتیك دواگانو نقل او انتقال د محدودولو لپاره د اول ځل لپاره کوششونه وشول، پیل شو. د نشئی موادو په باره کی بین المللی قراردادونه کوم چی د (۱۹۱۲) او (۱۹۷۲) کالو تر منځ وشول د نشئی موادو د کنترول د اوسنی بین المللی سیستم قانونی اساس یی کیښنود.

د نشئی موادو په کنترول کښی د ملگرو ملتونو برخه اخیستنه:

ملگرو ملتونو په ۱۹٤٦ کال په رسمي، دول د نشئی موادو د کنترول وظیفه او مسؤلیت په غاړه واخیست کوم چی مخکی د اتحاد ملل League of Nations سره وه د اتحاد ملل د مشورتی کمیټی وظایف د ملگرو ملتو د نشئی موادو کمیسیون ته ور انتقال شول.

د نارکوتیکو دواګانو په هکله د ۱۹٦۱ کال ځانګړی قرارداد:

د ۱۹۱۲ کال نه وروسته دوره کی د نارکوتیکی دواګانو د کنترول سیستم په اتفاقی ډول وده وکړه او په ۱۹٦۰ کال دا سیستم ډیر زیات پیچیده شو، دا حالت د ۱۹٦۱ کال د نارکوتیکو دواګانو په هکله په ځانګړی قرار داد Single Convention باندی منتج شو اود پخوانیو ټولو بین المللی رسمی اسنادو او وسایلو غونډولو، پیاوړی کولو او یو لاس کولو سبب شو. دغه کنونشن چی د ۱۹٦٤ کال د ډسمبر په میاشت کی یی تطبیقول پیل شول او د ۱۹۷۲ کال پروتوکول په واسطه ترمیم شول د نارکوتیکی موادو د کنترول په باره کی د ملل متحد د کوششونو او هڅولوی بریالیتوب ګڼل کیږي.

د ځانګړی کنونشن ترمیم د ۱۹۷۲ کال د پروتوکول پواسطه:

دغه ځانګری کنونشن د ۱۹۷۲ کال د پروتوکول پواسطه ترمیم او نور هم تقویه شو او د ۱۹۷۵ کال د اګست په اتم تاریخ یی په تطبیق پیل وشو. دغه پروتوکول په دغه ضرورت باندی تاکید کوی چی د غیر قانونی دواګانو د تولید، قاچاق او استعمال د مخنیوی لپاره باید کوششونه زیات کړای شي.

همدارنګه دغه پروتوکول د نشیانو د علاج او د هغوی د بیا بحالی په ضرورت باندی ټینګار کوی او د دوی د تعلیم، مراقبت او په اجتماع کی د هغوی د بیا بحالی غوښتنه کوی او علاوه پردی د هغو نشیانولپاره چه هغوی د کوم تیری مرتکب شوی د زندانی کیدو سپارښتنه کوي.

د سایکوتروپیکو موادو په هکله د ۱۹۷۱ قرارداد :

۱۹۷۱ کال پورې یوازې نارکوتیك دواګانې تر بین المللی کنترول لاندې وې مګر د سایکوتروپیك موادو Psychotropic Substances لکه Amphetamine په څیر دواګانو.

Sedative - hypnotic دواګانو hallucinogens چې ټولې د انسان پواسطه جوړې شوې او دانسان په کړو وړو او وضع کې د تغیر قابلیت لرې د مضرو تاثیراتو په هکله تشویشونه زیات کړل د ۱۹۷۱ کال کنونشن باندې منتج شو کوم چې د سایکوتروپیکو موادو استعمال د بین المللی قانون په واسطه کنترول کیږي. دغه کنونشن په ویانا کې د ۱۹۷۱ کال د جنوري او فبرورۍ په میاشتو کې د ملل متحد تر سرپرستی لاندې دایر شوې کنفرانس کې ومنل شو.

ددغه کنونشن په قبلولو سره کوم چې د ۱۹۷٦ کال د اګست په ۱٦ نیټه یې په تطبیق پیل وشو . د ملل متحد د نشئي موادو د کنترول سیستم په زیاته اندازه پراخه شو، اوHallucinogens لکه Lysergic acid diethylamide (LSD) ، Mascaline, Amphetamine او Borbiturates هم د کنترول لاندې راغلې.

نارکوتیکو او سایکوتروپیکو نشئي موادود قاچاق په ضد د ملل متحد د۱۹۸۸ کال کنونشن (قرارداد) :

1988 UN Convention against illicit traffic in narcotic drugs and psychotropic substances

د ملګرو ملتونو دا اوسنی قرارداد د نشئي موادو د هر قسم غیر قانوني تجارت او قاچاق مخنیوی کوی چې په دې کې د نشئي موادوکرنه او تولید

، په پټه او غیر قانوني ډول بازار ته رسول، او ددې نه لاس ته راغلو پیسو ته په بانکونو کې جایز او قانوني شکل ورکولو مخه نیول شامل دي. ددې قرارداد اصلي مقصد دادې چې په بین المللي سطحه باندې د گمرکاتو Cos-tums پولیسو او قضايي ادارو تر منځ همکاري زیاته کړې او ددوې په فعالیتونو کې انسجام راوړې او دوې ته قانوني لارښوونه وکړې چې په موثر ډول باندې د غیر قانوني نشئي موادو وړل راوړل بند کړي.

یادونه:

بین المللي قراردادونه داسې قوانین نه دي چې حکومتونه دې د هغوې په تطبیق مجبور کړې شي. د حکومتونو په واسطه د ملل متحد ددا سې قراردادونو امضا کول دا معنی ورکوي چې دا حکومتونه د نشئي موادو په ضد مبارزه کې برخې اخیستو ته چمتو دي.

د نشئي موادو دتجارت او استعمال په مخنیوې کې د حکومت رول ډیر مهم او موثر دی کله چه حکومتونه د نشئي موادو زیات تولید او مصرف سره مخ شي. نو دوې اکثراً د هغه هیوادونو تجربې تکراروي چې هغوې هم مطلوبو نتیجو ته نه دي رسیدلي.

ملگرې ملتونه د نشئي موادو د کنترول په بین المللي مبارزه کې حکومتونو ته مشورې ورکوي او د هغوې د پروگرامونو په انسجام کې مرسته کوي.

د نشه ای شیانو د مخنیوی بین المللی طریقی

International Strategies on Drug Abuse Prevention.

د نشئی شیانو او د هغو د ناوړه استعمال د مخنیوی لپاره دری طریقی پر نړیواله سطحه استعمالیږی چی هغه عبارت دی له:

۱ - د غیر قانونی نشه ای موادو د کرلو مخنیوي، د نورو فصلونو د رواجولو د پروژو په واسطه.

۲ - د غیر قانونی نشه ای شیانو د قاچاق بندول د قانون نافذ کوونکو ادارو پواسطه.

۳ - د نشه ای موادو د ناوړه استعمال لپاره د غوښتنی (تقاضا) د کمولو اقدامات.

د متبادل عاید پروګرام یا متبادل فصل رواجول :

سره له دی چی کوکا Coca او اپین په قانونی ډول د نارکوتیکو د کنترول د بین المللی بورد د هئیت تر نظارت لاندی کرل کیږي، ولی زیاته (INCB) برخه یی په غیر قانونی ډول سره تولیدیږي، نود دغه شیانو د کرلو په ځای د متبادل فصل د رواجولو پروګرام یو مهم اقدام دی تر څو هغو دهقانانو ته چی دغه نشئی شیان کری یو متبادل فصل معرفی شی تر څو د هغوی لپاره

منشیات د قران او احادیثو په رڼا کښې

خدای پاك انسان اشرف مخلوقات پیدا کړی دی. د ده شرافت که یو اړخ ته په دی وجه دی چه دی یی په ډیر ښکلی شکل کښتی پیدا کړی دی. نو بل اړخ ته د ده د شرافت وجه د ده علم دی کوم چه خدای پاك ده له ورکړی دی- فرشتو ده ته د ده د علم په وجه سجده کړی ده. انسان ته چی خدای پاك کوم علم ورکړی دی د هغی دوه قسمه دی - یو هغه علم چه تعلق یی د مشاهداتو سره دی چه د حصول دپاره یی الله انسان ته سر اوسترگی ورکړی دی چه ددی په برکت ده کائینات مسخر او د کائیناتو په دی تسخیر کښنی دی بیخی آزاد دی. البته دومره پابندی پری لگولی شوی ده، چه دا تسخیر به دی د خدایی او د هغه د رسولﷺ د احکامو په رڼا کښنی کوی او خپل علم به د خدای د مخلوق په کار راولي.

د عايد يوه منبع وګرځي دغه د متبادل فصل د رواجولو پروژی د څو اړخيزه او دوه اړخيزه بسپنې ورکوونکو ادارو له خوا تطبيقيږي.

دقانون دنافذکوونکو ادارو پواسطه دغيرقانوني نشه ای شيانو د قاچاق بندول:

دغه کار د ملی منطقوی او بين المللی ادارو پواسطه چی په هغی کی د پوليسو اداری د ګمرکاتو اداری او ځنی خاصی اداری چی د نشئی شيانو د مخنيوی سره سروکار لری سرته رسيږی په دغه ساحه کی يو بل سره مرسته کول دير اهميت لری ځکه چی د نشی شيانو قاچاق يو بين المللی پرابلم دی.

د نشئی شيانو د ناوړه استعمال لپاره د غوښتنی د کمولو اقدامات:

د غوښتنی د کمولو د طريقی نه مقصد د نشه ای شيانو د استعمال کمول دی دا داسی کيدای شی چی يو خوا نشه يان تداوی او بحال کړای شی او له بلی خوا د نشی شيانو د استعمال د مخنيوی لپاره لازم اقدامات دی چی خلك د نشی د استعمال او په هغی د اخته کيدونه لری ساتل کيږي.

نشئي شیان د تاریخ په اوږدو کې

(Drugs in History)

د تاریخ په مختلفو وختونو کې خلکو په دې باره کې چې څه شې نشئي دي او څه شې نه دي او دا چې د کومو استعمال جواز لري او کومې نلري مختلفې نظریې درلودې نشه اې شیان ډیر زیات اقسام لري دلته کوښښ شوی دی چې د څو نشه اې شیانو تاریخچه بیان کړو.

الکولي مشروبات (شراب)

د پیغمبرﷺ د مبعوث کیدو په وخت کې ډیرو خلکو شراب څښل چې دی عمل د تولنې او کورنیو لپاره یو لوی خطر را منحته کړ، د اسلام په راتلو سره دا حالت بدل شو.

بنګ (چرس)

مرکزي اسیا (Cannabis) د بنګ د بوټي منبع وه او ددې ځای نه اروپا، اود اسیا نورو برخو، افریقا او امریکا ته خپور شو.

په ایران، عربو او هندوستان کې لیکل شوي اسناد داسې ښئ چې چرس د عیسی (ع) تر میلاد دمخه په اومه پیړۍ کې هم استعمالیدل.

د چرسو استعمال د اولین ځل لپاره په مصر کې په اتمه پیړۍ کې منع شو ځکه چې استعمال یې ډیر شو ولې دې اقدام کوم خاص اثر نه درلود. د یوولسمې پیړۍ نه تر دیارلسمې پیړۍ پورې چرس د ټولنې په هر اړخ کې په عام استعمال کې ؤ په کال ۱۳۷۸ شایجونی د سوډان امیر دوباره د بنګ د

بوټو د منځه وړلو حکم ورکړ او د چرسیانو لپاره یې سختې سزاګانې چې هغوی کې د اوږدې مودې قید اود غاښونو ایستل شامل و تعین کړې. ولې بیا هم د چرسو استعمال بند نه شو.

۱۸ پیړۍ کې کله چې فرانسوی فاتح (ناپلیون) مصر فتح کړ په دغه وخت کې باوجود ددې اقداماتو همدغه عسکرو په نولسمه پیړۍ کې چرس له خپلو ځانو سره اروپا ته یوړل تر دغه وخته پورې د چرسو نشه په اروپا کې چا نه پیژندله ولې په دې وخت کې د چرسو استعمال یواځې یو څو تعلیم یافته کسانو پورې محدود و او ددې استعمال او ددې وجه دا کیدی شي چې په دغه وخت کې د شرابو څښل په خلکو کې ډیر معمول او عام وه دا ددې ثبوت ورکوی چې کوم ځای کښې چې شراب ډیر وی هلته خلك چرس نه خوښوي.

په امریکا کې د چرسو تاریخ هم د اروپا په شان ؤ، د بنګ بوټی به ډیر کرل کیدل نو هغوی به تری کالی جوړول. او د بنګو بوټی نه به یې د طبي دوا (Medicine) لپاره هم مواد ایستل او په امریکا کې چرسو ته ماریوانه (Marijuana) وایی په دغه وخت کې چرس د نشې لپاره زیات نه دی استعمال شوي، ولې په حاضر وخت کې د چرسو زیات استعمال په امریکا کې ددې وجې نه نه دی چې په امریکا کې شراب کم شوی دی ولې دا ددې وجې څخه دی چې خلقو د شرابي ټولنې خلاف بغاوت کړی دی. په مصر کې د ۱۹۵۳ کال د څیړنو (Survey) راپوروونه شئي چې په سلو کې اویا مزدورانو، ٦۰ عسکرو او ۲۰ دهقانانو چرس استعمالول.

په تیرو شلو کالو کې د چرسو استعمال زیات شوی دی اود افیون، کوکین او هیروئینو استعمال په خپل حال پاتې دی یا کم شوی دی.

اپین (Opium)

اپین د کوکنارو د بوټی د غوزی څخه لاس ته راځي، د کوکنارو بوټی اکثرا په گرم او وچ موسم کی ښه وده کوي. په دی وخت کښی کوکنار اکثر په ترکی، افغانستان، ایران، پاکستان، هندوستان، برما، تایلند، لاوس او جنوبی چین کی کرل کیږي، ددی اصلی منبع داسی ویل کیږی چی د پخوانی میسوپوتامیا (یا اوسنی عراق) نه ده. کوم ۴۰۰۰ کاله مخکی دی بوټی ته د« خوشحالی گل» ویل کیده ، د فارس اوسیدونکو دا بوټی یونان ته یوړ او هغوی رومیانو ته ورکړ، بیا عربو د کوکنارو د خامی غوټی نه د افیمو د شیرې راښکل شروع کرل او ددی تجارت یی زیات کړ او په اتمه پیړۍ کی یی په هندوستان او چین کی هم رواج کړل، په پنځلسمه پیړۍ کی د افیمو استعمال په هندوستان او چین کی ښه رواج شو او دوی په خپله د کوکنارو په کرلو شروع وکړه.

مخکی د اولسمی پیړۍ نه د افیمو استعمال په چین کی یواځی د دوا په توگه او د پیچش درد او بی خوبی مرضونو لپاره استعمالیده.

د اولسمی پیړۍ په شروع کی د چین آخری مینگ (Ming) پادشاه په خپل ملك کی د تماکو استعمال منع کړ ځکه چه ده د تماکو استعمال د اروپا عیب گڼلو، نو خلکو د تماکو په ځای افیون څکول شروع اودا عادت په غریبو خلکو کښی ډیر زر خپور شو.

کله چی د چین مقاماتو د افیونو واردول کم کړل ځکه افیونو د هغوی معاشری (ټولنی) ته نقصان رساوه، په دی وخت کی د برتانیا حکومت د چین په ضد جنگ وکړ چی دی جنگ ته د افیونو جنگ وایی (۱۸۴۲ - ۱۸۳۹)

او چین باندی یی زور واچاوه تر څو په زیاته اندازه اپین د هند نه وارد کړی چینایانو ددی لپاره چه انګریزانو باندی یی د افیونو اتکا کمه شی خپل ملك کښی یی د افیونو کرل شروع کړل او د افیونو استعمال بیا په لری ختیځ او چین کی خپور شو. کله چی په ۱۸۵۰ کال امریکی د چین په زرګونو مزدوران د امریکا غربی ساحلونو ته را وغوښتل دی مزدورانو د افیونو د څکولو رواج په امریکا کی هم خپور کړ.

په کال ۱۸۰۳ یو جرمنی دواساز چی (Serturner) نومیده د افیونو نه یی Opium Alkoloid Morphine را وایستل چی د دوا په حیث ور څخه کار اخیستل کیده چه اکثرا د درد د کمولو لپاره یی ښه نتیجه ورکړه، په امریکا کی دخانه جنګی په وخت کی انجکشن (پیچکاری) هم ایجاد شوی او په دی وخت کی د مورفینو پیچکاری د زخمیانو د درد آرامولو لپاره په کافی اندازه استعمال شوی چه ددی په نتیجه کی خلك د مورفینو په استعمال عادت شول او دغه عادت کیدو ته خلکو بیا (Morphinism) یا د عسکرو مرض ویلی. د مورفینو نه د عسکرو غلط استعمال اود چینایی مزدورانو په واسطه د افیونو څکولو رواجول ددی سبب شو چی د افیونو نه جوړ شوی شیان په ټوله معاشره کی د یو مکمل سکون راوړونکی شی په صفت وپیژندل شی او قبول شي.

په کال ۱۹۰۰ کښی داسی اندازه لګولی شوی وه چی د امریکا په سلوملیونو خلکو کی نیم ملیون خلکو د (Opiate) نشه کوله او دا اندازه د ۱۹٦۰ کال په نسبت کوم وخت چی د هیروئینو د استعمال وبا خوره شوه دوه چنده وه په دغه وخت کی (Opiate) په آزاد ډول سره بی له نسخی په دواخانو او نورو دوکانونو کی خرڅیده او دهری خیالی او حقیقی ناروغتیا

لپاره استعمالیده بیا د (Opiate د استعمال د کنترول لپاره په ۱۹۰۶ او ۱۹۱٤ کال کی قوانین جوړ شول.

په ۱۸۹۸ کال د افیونو په ډرامه کښی بله پیښه وشوه او لابراتوار کی (Diacetylmorphine) چی په هیروئینو مشهور دی ایجاد شول هیروئین په ابتدا کی یو قوی دردغلی کوونکی دوا ګڼل کیده اودعادت کیدو خاصیت یی له مورفین نه کم وه ، د شلمی پیړی په شروع کی هیروئین د توخی په دارو کی استعمالیده اونشی لپاره یی ډیر استعمال رواج نه وه. ورووررو هیروئین د مورفین ځای ونیوه اوخلکو د نشی لپاره ددی استعمالول هم شروع کړل.

نیکوتین:

تمباکو د امریکا په براعظم کی کیدل او استعمالیدل او نوره دنیا تری تر هغه وخته چی کولمبس امریکا کشف کړه ناخبره وه. کله چی په شپاړسمه پیړی کی کولمبس امریکا نه واپس راغلو د تمباکو استعمال یی په اروپا کښی هم رواج کړ او ډیر زر خپور شو په اولو وختو کی به تمباکو دولتمندو خلکو استعمالول ځکه ډیر کم وو او قیمت یی ګران و. په ۱٦۱۰ کال کی یو انګریز د تمباکو په باره کی داسی لیکلی دی « ډیروځوانانو ددی عادت په وجه خپل ټول دولت په تمباکو څکولو لوګی کړ » په ۱٦۱٤ کال کی په لندن کی د تمباکو د خرڅولو دوکانونو شمیر ۷۰۰۰ ته ورسید او غریبو خلکوهم د تمباکو استعمال شروع کړ او ددی څکول عام شول.

په ۱٦٤۲ او ۱٦۵۰ کالو کی پاپ روم اربن اوم او پاپ روم انوست لسم د تمباکو خلاف احکام جاری کړل خو بیا هم دی کوم اثر په خلکو ونه کړ.

سلطان مراد (څلورم) د عثماني دور امپراتور(شاهنشاه) په تمباکو څکولو د مرگ سزا تعین کړه خو بیا هم د تمباکو د څکولو د خپریدو مخه ونه نیول شوه او تقریبا په ټوله دنیا کی د تمباکو څکول رواج شول له هغی زمانی نه تر اوسه پوری چی په کوم ملك کښی د تمباکو استعمال شروع شوی دی تر اوسه یی تری لاس نه دی اخیستی د ۱٤۹۲ کال نه را په دی خوا داسی شی نه دی پیدا شوی چی د تمباکو ځای ونیسي.

په ذهن اثر کوونکی مصنوعی مواد (Synthetic psychoactive substances)

په لابراتوارو کی د مصنوعی کیماوی شیانو جوړیدل په جرمنی کی په نولسمه پیړی کی شروع شول.

کلورول هایدریت یوه په ذهن اثر کوونکی دوا د لومړی ځل لپاره (Liebig) په ۱۹۳۲ کال کی ایجاد کړه په ۱۸٦۹ کال (Leibrich) داسی څرگنده کړه چه دا کلورول هایدریت به د مصنوعی خوب راوړلو د تاثیر امکان لري. دا خبره رښتیا ثابته شوه او تر اوسه پوری دغه دوا اثر ناکه او با ارزښته خوب راوستونکی ماده گڼل کیري.

د مصنوعی دواگانو د جوړولو اهمیت هغه وخت اوچتی مرحلی ته ورسید کله چه ۱۸٦٤ کال کی وان بائر په مصنوعی توگه (Barbituric Acid) جوړ او د ابتدایی علاج نه وروسته ۲۵۰۰ باربحپوریت ډول دواگانی جوړی شوی چی له هغی جملی د ۵۰ نه زیاتی په طبابت کی استعمالیری په طبابت کی باریچویتونو تقریباً د ټولو خوب راوستونکی دواگانو ځای ونیو.

په کال ۱۹۵۲ کی د (Chlorpromazine) په نوم یوه نوی دوا ایجاد شوه چی د سودا او پریشانی لری کولو تاثیر لری دغه قسم دواگانی د ترانکولایزر په نوم مشهوری شوي.

ددې بر عکس په لمړی ځل د بدن مهم تحریکوونکی او د اشتها ځپونکی دارو چې د (Amphetamine) په نوم یادیږی په ۱۹۳۵ کال کې ایجاد شول دغه دوا د ستړیا د لرې کولو د قوت (انرژی) د زیاتولو، د اشتها د کمولو اود خفگان د تداوی لپاره استعمالیده.

په دوهم نړیوال جنگ کې مایوسه شوی ځوانانو ددغې دوا د استعمال سره زیاته علاقه پیدا کړه او ددې د استعمال تجربې یې شروع کړې تر څو د دنیا د حقیقتونو نه ځان په مؤقت ډول گوښه کړی او په خپل ذهن کې تصوری دنیاته لاړ شی. د نباتاتونه حاصل شوی (Hallucinogens) لکه بنگ دوباره استعمال شروع شول، او په دنیا کې یې د دغه رنگه دواگانو استعمال ډیر عام او باب کړ. د خوب راوستونکو، ارام راوستونکو، دبدن پارونکو او د خفگان لرې کوونکو مصنوعی دواگانو تجارتی اهمیت او کامیابی د دوا جوړولو فابریکې دې ته وهڅولې چې ددې قسم دواگانو په انکشاف او اصلاح لاس پورې کړی او دغه په اعصابو تاثیر لرونکی دواگانو د ۱۹۶۰ په لسیزه کښې د سیلاب په څېر مارکیټونو او پلورنځیو ته لار پیدا کړه.

ددغه دواگانو په جمله کې خوب راوستونکی او آرام راوستونکی او د بدن تحریکوونکی او د مختلفو ډولو د پریشانی لرې کوونکی دواگانی شاملې دې چه هر یو د دغه دواگانو د یوی مودې لپاره په طبابت کښې د استعمال باب وموند د ۱۹۶۰ په لسیزه کسې. په ۱۹۳۳ کال کې هافمن د(L.S.D) په نوم یوه دوا کشف کړه او په ذهن باندې یې د هغې تاثیرات په واضح ډول تشریح کړل.

ډیر زیات مقدار قانونی او غیر قانونی مصنوعی دواگانو موجودیت د دواگانو د زیات استعمال سبب شوی کوم چې د مختلفو نشئي موادو او په تیره بیا د هیروئینو په استعمال مخصوصاً په ۱۹۷۰ کې منتج شو.

ددوا مفهوم او اصطلاحات

Basic Concept of Drug and Terminalogy

هر هغه ماده چه د ژوندی جسم وجود ته داخله شي او دهغې په روحي يا جسماني فعاليتونو کې تغيير راولې دوا بلل کيږي.

بهتره به وي چه دفعاليت په لغت چه په پورته تعريف کې ذکر شوی دی لږه رڼا واچوو. دبدن فعاليتونه عموماً په دوه ډوله ويشلای شو:

۱- ارادي فعاليتونه (Voluntary Functions): دا هغه فعاليتونه دي چه دانسان په کنترول کې دي لکه: کارکول، خوړل، څښل او داسې نور.

۲- غير ارادي فعاليتونه (Involuntary Functions): دا هغه فعاليتونه دي چه د انسان په کنترول کې ندي لکه: ددماغو، زړه، کلمو، پستورگی فعاليتونه او داسې نور.

اصطلاحات (TERMINOLOGY)

ددوا غلط يا ناوړه استعمال (Drug Misuse): که چيرې يوه دوا دطبي هدف نه په کوم بل مطلب باندې، يا په طبي لحاظ ولې دډاکتر دهدايت خلاف وخوړل شي ددوا غلط استعمال بلل کيږي.

مثال: يو مريض ته چه ډاکتر دوا ورکوي دهغې اندازه ديووخت، د استعمال وختونه، داستعمالولو طريقه دتداوې ټوله موده ورته تعينوي، که دا مريض

دډاکتر دهدایت څخه خلاف ددوا استعمال وکړی دا د دوا غلط استعمال دی لکه بعضی مریضان چه مریضی ئی جوړه شی دوا دبل وخت دپاره ساتی چه اقتصادی تمامه شی.

دبل غلط استعمال مثال دادی چه یو څوك دډاکتر څخه دیو مرض لپاره دوا اخلی او وریاندی جوړ شی او بل څوك چه دده مرض مشابه تکلیف ولری دی همدا دوا ورکوی.

اوس راځو بعضی اصطلاحاتو ته چه په ذهن اثر اچوونکو دواګانو پوری مربوطی دی او همیشه دمنشیاتو په بحث کی استعمالیږی.

ددوا استعمال (Drug Use): په دی حالت کی یوکس پخپله یوه په ذهن اثر اچوونکی دوا استعمالوی دا استعمال کیدای شی بد اثرات را منځ ته کړی او تداوی ته ضرورت ولری او بالاخره دناجایز استعمال، اتکا او اعتیاد حالت ته ورسیږی اویا دا دوا دومره بد اثرات ونلری که بیا بیا استعمال نشی.

ددوا استعمال کیدای شی په مختلفو ډولونو وی لکه:

الف: دساعت تیری لپاره (Recreational Use): ددی مثال په بعضی محافلو کی چه ځوانان راټولیږی او یوه دوا استعمالوی پیدا کولای شو، په دی ډول استعمال کی اکثراً دوا په کم مقدار او بعضی وخت استعمالیږی.

ب: عارضی استعمال (Circumstantial Use): دا ډول استعمال دیو خواهش یا مطلب په خاطر چه ددوا تاثیرات تر لاسه کړی دوخت یا ضرورت په اساس ترسیره کیږی. پدی کی استعمالوونکی فکر کوی چه د وخت یا

بل هغه علم دی چی تعلق یی د خدای د وحی سره دی. په دی علم کښنی انسان د خپل ځان نه څه تصرف نه شی کولی بلکه دی به د خدای دا قانونی حاکمیت ضرور منی او ددی قانون وړاندی به خپل سر ښکته کوي.

گویا چی د انسان د انسانیت اندازه که یو اړخ ته مادی ترقی نه لگولی شی- چی په کښنی دی د خپلو ټولو صلاحیتونو نه کار اخلی نو بل ارخ ته د ده د انسانیت او شرافت اندازه ددی نه هم لگولی شی چی ایا دی په دی دنیا کښنی خپل روزمره ژوند د خدای او د هغه د رسول د تعلیماتو په رڼا کښنی تیروی او کنه - په دی دواړو حالتونو کښی عقل یو بنیادی کردار ادا کوی- نو د انسان د انسانیت او شرافت معیار دا شو چی دی په دی دنیا کښنی خپل ژوند د خدای او د هغه د رسولﷺ مرضی مطابق تیر کړي.

دخدای او د هغه د رسول مرضی دا ده، چی انسان د هغه کار کوی د کومی چی خدای او د هغه رسول حکم ورکړی دی - او د کومو کارونو نه چی یی منع راوړی ده - هغه د نه کوي. الله(ج) او د هغه رسولﷺ چی د کومو کارونو کولو حکم ورکړی دی هغی ته حلال وایی او د کومو کارونو نه چی یی منع راوړی ده هغی ته حرام وایی - د کومو اشیاو د استعمال چی یی اجازت ورکړی دی هغی ته حلال اشیا وایی. او د کومو اشیاؤ د استعمال نه چی یی منع راوړی ده هغی ته حرام اشیا وایی.

ولی موږ ته دا هم معلومیدل په کار دی چی شریعت موږ د کومو کارونو نه منع کړی یو یا یی په څنی اشیاؤ پابندی لگولی ده. د هغی کارونو په کولو او د هغی اشیاؤ په استعمالولو کښنی ضرور زموږ تاوان وي. او د کومو د کولو یا د کومو اشیاؤ د استعمال چی یی اجازت ورکړی دی. په هغی کښنی

دحالت ضرورت دی. مثالونه ئی دلاری ډریوران چه اوږده منزلونه وهی یو رقم دوا چه امفیتامین نومیږی استعمالوی ترڅو خوب ورنشی. او همدا دوا بعضی وخت شاګردان د امتحانونو په شپو کی دعین مطلب په خاطر استعمالوی.

او غټی ښځی ئی ددی دپاره استعمالوی چه اشتهائی کمه شی او وزن دلاسه ورکړی.

ج: شدید یا زیات استعمال (Intensified Use): په دی حالت کی دوا په کمه یا متوسطه اندازه تقریباً هره ورځ استعمالیږي. استعمالونکی ئی ځانته ضرورت ګڼی تر څو ځان دیو دوامدار تکلیف څخه خلاص کړي. مثال ئی په هغه خلکو کی پیدا کولای شو څوك چه په کم مقدار ذهن پارونکی دواګانی استعمالوی تو څو دکار کولو قابلیت ئی زیات شي. یا بعضی خلك ئی دخفګان نه دخلاصون په خاطر استعمالوي.

د- اجباری استعمال (Compulsive use): په دی حالت کی یو کس هره ورځ په زیاته اندازه دوا استعمالوی تر څو هغه جسمانی یا روحی تا ثیرات چه دوائی تولیدوی تر لاسه کړي. ددوااستعمال دهغه لپاره دژوند مهم شی ګڼل کیږی او دژوند نور ټول فعالیتونه دهغی پرشا وخوا څرخیږي.

ددوا ناجایز استعمال (DrugAbuse): په دی ډول دوا استعمال کی که څه هم استعمال کوونکی په دی باندی پوهیږی چه ددوا استعمال ده ته اجتماعي، روحي، جسمانی او حرفوی مشکلات رامنځ کوی او یائی زیاتوی ولی بیاهم په وار واردوااستعمالوي.

استعمالونکی بار بار په داسی ځایونو یا حالاتوکی دوا استعمالوی چه هلته

مناسب نه وی یا ضرور نه وی لکه په مکتب، موټر، مجلس او نور ځایونوکی چه دوا باید استعمال نشی دوا استعمالوي، یا لکه یو ډریور چه خوب راوړونکی دواگانی استعمالوي.

ددی دپاره چه دناجایز استعمال حکم پری وشی دا علایم باید کم له کم دیوی میاشتی دپاره یا په تکرار ډول داوږدی مودی دپاره ولیدل شي. ناجایز استعمال داتکا خفیف شکل دي.

په دوا اتکا (Drug Dependence) : دنړی دصحی سازمان دماهرینو کمیټه اتکا داسی تعریفوي:

(ذا یو حالت دی روحی او کله کیدای شی جسمانی هم وی چه ددوا او دژوندی جسم دمتقابلی اغیزی په نتیجه کی رامنځ ته کیږي او دهغی له امله په خواصو او عاداتوکی داسی تغیر راځی چه ژوندی جسم په دی مجبور وی چه دا دوا په دوامدار یاغیر دوامدار ډول استعمال کړی تر څو دهغی روحی تاثیرات ترلاسه کړی او یا کله کله دهغه تکلیف مخه ونیسی چه د دوا دنشته والی په نتیجه کی ورته پیدا کیږي).

مثال: یو نوی ځوان چه په سگرټو شروع کوی کیدای شی چه په هفته کی فقط یو څو سگرټ استعمال کړي. دوخت په تیریدو سره دسگرټو اندازه ئی زیاتیږی او خبره دی حد ته و رسیږی چه دسهار دچای نه مخکی هم یو یا دوه سگرټ څکوي چه دا یو ډول په نیکوټین باندی اتکا ده. دی سگریټ څکولو ته دوام ورکوی که څه هم ده ته ډول ډول مشکلات پیداکوی او حتی دخلکو احساساتو ته هم نه گوری او په نا مناسبه ځایو نوکی لکه بس، مکتب، شفاخانه، او دمشرانو مخکی هم سگرټ څکوي.

اتکا په دوه ډوله ده : الف- روحي اتکا ب- جسماني اتکا

الف: روحي اتکا (Psychological Dependence) : که چیری یوه دوا په وار وار استعمال شي بلاخره دانسان سره داسی احساس پیداکیږي چه دپوره او ښه فعالیت دترسره کولو دپاره دی دوا ته ضرورت لری او که دوانه وی نو دجوړتیا احساس نه کوي. دایو عادت دی چه انسان ددوا دپاره شدید ذوق پیدا کوي.

ب: جسماني اتکا (Physical Dependence) : پدی ډول اتکاکی دوا دوجود یوه برخه ګرځی او بعضی فزیولوژیکی مراحل په وجود کی کمیږی وجود ددوا ددوامدار موجودیت سره ځان عیار وی او هرکله چه دوا قطع شی هغه فزیولوژیکی مراحل چه په وجود کی کم شوی وؤهغه په ډیره زیاته پیمانه فعالیت کوی او سړی ته یو ډول تکلیفونه پیدا کیږی چه هغی ته ددوا دپریښودنی علایم وائي. په جسماني اتکاکی شاید تحمل او دپریښودنی علایم موجود وی او یانه وي.

اعتیاد (Addiction) : په اعتیاد کی بعضی فریکی تغیرات په وجودکی منځ ته راځی او هم تحمل او دپریښودنی علایم ظاهریدلای شی که شخص دفعتاً دوا قطع کړي.

دجهان صحی سازمان اعتیاد داسی تعریفوي:

- دواته شدید ضرورت او خواهش که څه هم دوا په هره طریقه لاس ته راځي.
- ددوا زیات مقدار خوړلو خواهش، ځکه پخوانی اندازه ده ته هغه اثرات چه غواړی نشی ورکولای.

- اکثراً روحی یا فزیکی اتکا موجوده وي.
- د دوا پریښودو په صورت کی ددوادپریښودنی یا نشتوالی علایم ظاهریدل.
- د دوا بد اثرات په ده، دده په فامیل او جامعه باندي.

تحمل (Tolerance): که یو څوك یوه دوا په منظم او دوامدار ډول استعمالوی نو بلاخره هغه دوا خپل بعضی اثرات چه پخوابه ئی تو لیدول نشی تولیدولای او استعمالونکی پدی باندی مجبور شی چه د هغه اندازه اثراتو دلاس ته راوړو دپاره ددوامقدارزیات کړي. دا یو دتطابق حالت دي.

تحمل ددوا دټولو اثراتو سره یو قسم نه پیدا کیږی دمثال په ډول دنارکوتیکو دواگانو استعمالونکی ته څه موده بعد هغه خوشحالی یا رضایت (Euphoria) چه د دوا داستعمال څخه ئی لاسته راوسته نه پیداکیږی او دی مجبور دی چه ددوامقدار زیات کړی ولی هغه بل اثر ددوا چه دسترگو دکسی تنگوالی دی تر اخره پوری ډیر کم تطابق پیداکوی او یائی هم نه پیداکوي. یو بل لغت چه دتحمل په بحث کی استعمالیږی هغه دکراس تالرنس(Cross Tolerance) دي. ددی څخه مفهوم دادی چه که چیری یو څوك دیوی دوا سره تحمل پیدا کړی دهغی دوا د فامیل دنورو دواگانو سره هم یو اندازه تحمل لري.

دمثال په ډول څوك چه مورفین استعمالوی دمیتادون او دنارکوتیکونورو دواگانو سره به هم یو اندازه تحمل ولري.

دپریښودنی علایم (Withdrawal Symptoms) : که چیری یو څوك یوه دوا داوږدی مودی دپاره استعمال کړی او اعتیاد ئی پیدا کړی وی‌دفعتاً یوه دوا پریږدی دده وجود ددوا دنشتوالی سره یو دول عکس العمل ښائی چه

هغه مریض ته یو اندازه نا راحتی پیدا کوی چه هغی ته دپریښودنی علایم وائی چه دا علایم د دوا دتاثیراتو مخالف دي.

مختلفی دواګانی مختلف دپریښودنی علایم لری او هم دا علایم د دوا په نوعیت، د استعمال په اندازه او داستعمال د وخت په اندازه پوری اړه لري.

دمثال په ډول دلته دهیروئینو دپریښودنی علایم ذکر کوو: دا علایم د ٦-۱۲ ساعتونو د دوا داستعمال څخه وروسته شروع کیږي، دپوزی څخه اوبه راتلل، خولي، ناراحتي، بیخوبي، دسترګودکسی پراخوالی، بی اشتهائي، پرنجیده، دپوزی بندیدل، دسترګوڅخه اوبه راتلل، دزړه بدوالي، کانګي، دهډول وجود دردونه، دګیډی درد، اسهال، دګوتولرزیدل، دعضلاتو سوریدل او داسی نور.

دا علایم د(٤۸-۷۲) ساعته پوری دیر شدید وی او له هغی نه وروسته ورو ورو کمیږی او یوی هفتی پوری اکثراً دوام کوي.

دزیاتو دواګانو ناجایز استعمال(Poly drug Abuse): داحالت کی یو څوک دیوی څخه زیاتی په ذهن اثر اچوونکی دواګانی استعمالوی دغیر طبی مطلب په خاطر.

دا حالت نن سبا دیر زیات مخ په زیاتیدو دي. دمثال په ډول نن الکهول او چرس، یا هیروئین او چرس یو ځای استعمال ډیر معمول دي.

تمرین:

۱- ددوا تعریف څه دي؟ آیا نصوار، سګرت، چای دواده او که نه ؟

۲- دبدن دبعضی فعالیتونو نومونه واخلی کوم چه پورته ندی ذکر شوی، او هم و وایاست چه کوم ئی ارادی او کوم ئی غیر ارادی دي؟

۳- دچرس او هیروئین استعمالونکی سړی شکل او کړه وړه بیان کړي.

دنشه ای موادو اثرات او طبقه بندی

Classification and Effects of Drugs

څرنگه چه مخدره مواد ډیر زیات اقسام لری او د ټولو اثرات په صحت باندی بیانول په دی مضمون کی مشکل دی نو مونږ دلته دمخدره موادو طبقه بندی او دمخدره موادو عمومی تاثیرات په صحت خصوصاً دچرسو اوهیروئینو تر مطالعی لاندی نیسو.

دا طبقه بندی هم د دوی د اثراتو په بنیاد باندی شویده نوکه چیری په یوه گروپ کی په یوه دوا او د هغی په اثراتو پوه شو دگروپ نوری دواگانی هم څرنگه چه ورته یا مشابه خواص لری کیدای دهغو نورو په باره کی هم یو اندازه معلومات حاصل کړو.

مخدره مواد په عمومی ډول په څلورو گروپونو ویشل کیږی :

الف- نارکوتیکس یا خوب راوړونکی دواگانی :

۱- اپین لرونکی دواگانی

- اپین

- مورفین

- کودین

۲ - نیمه مصنوعی اپین لرونکی دواگانی :

- هیروئین

۳ - مصنوعی اپین لرونکی دواگانی :

- پیتیدین

- میتادون

- تیمجیزیك
- سوسیگان

ب - دا هغه دواگانی دی چه دمرکزی عصبی سیستم دسست کیدو او فعالیت دکمیدو سبب کرځی .

۱ - Sedative/Hypnotic - دا دواگانی مرکزی عصبی سیستم سستوی. په لږه اندازه استعمال ئی ارامی او نیمخوبی پیدا کوی او په لاندی ډول دی :

- باربیچوریت
- الکول
- ماندریکس

۲ - ترانکویلایذر یا ارام راوستونکی دواگانی - دا دواگانی اکثرا په وجودکی ارام راوړی او دخوب راوستو قابلیت ئی نسبت باربیچوریت ته کم دی .

- دیازیپام Diazepam
- لیبریم Librium
- اتیوان Ativan

ج - دمرکزی عصبی سیستم پارونکی دواگانی :

- نیکوتین
- کافین
- امفیتامین
- کوکین

د - خیال یا تصور پیداکوونکی دواگانی: دا دواگانی په ذهنی فعالیت اود

درك په قوه داسی تاثیرات اچوی چه په سالم فکر او احساساتو کی داسی تغیر راولی چه سړی ته په ویښه داسی تصورات پیداکیږی لکه چه خوب وینی .

- چرس
- بنگ

اوس په عمومی ډول سره ددی دواگانو تاثیرات په لنډ ډول تر نظر لاندی نیسو :

الف - روحی او دعاداتو تغیرات .

- دکار کولو شوق او قدرت کمیدل .
- قرض غوښتل.
- دفکر او طبیعت گډوډی.
- گنگسیت.

ب - جسمانی اثرات :

- دپوست مختلف تغیرات
- دپوزی ، خولی ، سگو او نورو مختلفو غړو تکلیفونه
- دوجود دموازینی خرابولی
- مختلف مرضونه

ج - اجتماعی اثرات :

- فامیلی مشکلات
- قانونی مشکلات
- نوی ملگری

اوس لږ په تفصیل سره د چرسو او اپینو په مشکلاتو باندی نظر اچوو :

چرس او دهغه اثرات : دا اثرات په دوه برخو ویشل کیږی :

۱ - دلنډی مودی اثرات - دا هغه اثرات دی چه دچرسو د استعمال نه وروسته په څو دقیقوکی پیداکیږی او په لاندی ډول دی :

- چرس عموماً په سگرټو او چلم کی څکول کیږی او بعضی خلك ئی خوری هم. دڅکولو څخه وروسته ددی اثرات په څو دقیقو کی پیدا کیږی او د دوو څخه ترڅلورو ساعتونو پوری دوام کوی .

دنشی په حالت کی انسان لږ ارام او په وجود کی ئی سستی پیداشی او دخوشحالۍ احساس کوی، دده فکری تمرکز او حافظه خراب شی، ډیری زیاتی خبری کوی، اشتهائی زیاتیږی خصوصاً دخوږو شیانولپاره. سترگی ئی سری او رنگونه ورته تازه ښکاری . په عادی خبره باندی هم خاندی. ددی ترڅنگ کله کله دوهم او ترس ښکارشی او هرچاته دشك په سترگه گوری او فکر کوی چه ده ته ضرر رسوی. د زړه ټکان ئی زیاتیږی او جسمانی کار په ښه ډول سره نشی کولای.

داوږدی مودی تاثیرات:

دچرسو داوږدی مودی استعمال سره دانسان دلچسپی، شوق، حافظه او عصبی تمرکز کمزوری کیږی په هغه خلکو کی چه پخوانی دماغی مرضونه ئی لرل او اوس ښه وی که چرس استعمال کړی هغه بیاورته پیدا کیږی او هم دچرسو څخه یو قسم مریضی چه لیونتوب ته ورته ده پیدا کیدای شی .

دبعضو تحقیقاتو پهنتیجه کی چه ترسره شوی دی داسی نتیجی ئی راوتلی

دی چه که چیری یو سړی په هفته کی (۱۰) یا دهغه څخه زیات د چرسو سګرټ وڅکوی دهغی په وجود کی بعضی مواد چه ټسټسټرون او سپرم ورته وائی (۵۰) فیصده کمیږی چه دا مواد دانسان د اولادپه پیدا کیدوکی پکاریږی.

برسیره پردی څرنګه چه دا مواد اکثر په سګرټو او چلم کی استعمالیږی د تنباکو ټول ضررونه هم ور سره ملګری کیږی.

اپین او دهغه اثرات:

دلنډی مودی اثرات: کله چه اپین لرونکی دواګانی وجود ته داخلی شی نو انسان ته یوډول

دخوشحالی احساس پیدا کیږی چه د لوږی ، تندی ، دردوغم او شهوانی احساس تری پاتی شی.

همدا خوشحالی چه فقط او فقط دلنډی مودی دپاره ده په اپینو د اخته کیدو یا اعتیاد سبب ګرځی.

دسړی وجود ګرم او دروند شی ، خوله ئی وچیږی او بالاخره ګنګس شی ، کیدای شی همدا اندازه ئی استفراق او زړه بدوالی پیداکړی.

په فزیکی لحاظ دنارکوتیکو اثرات عبارت دی له زړه بدی، ددرد نه احساسول، دسترګو دکسو تنګوالی، قبضیت، د وجود خارښت او ورو ورو ساه ایستل او توخی دریدل. که اندازه ئی زیاته شی کیدای شی تنفسی سیستم فلج او دمرګ سبب شی.

د اوږدی مودی اثرات: عبارت دی له سخت قبضیت، دسترګو

ضرور زموږ فایده وي. دا جدا خبره ده چې موږ په خپله نفع او نقصان نه پوهیږو یا پرې د پوهیدو کوشش نه کوؤ.

د یو څیز د حرام کیدو دوه وجې وي. یوه دا چې هغه څیز ډیر محترم وی په دی وجه هغه حرام گرځول شوی وي. لکه د انسان غوښه نه خوړل. ددی وجه دا ده چې انسان ډیر محترم دی، یا هغه څیز په دی وجه حرام کړی شوی وی چې په هغی کښې زموږ نقصان وي.

ډیر اشیا داسی دی چې سړی ته ضرراو نقصان رسوی په ننی موضوع کینی موږ هغه ټول اشیا نه شو بیانولی کوم چې سړی ته نقصان رسوي. نن موږ صرف د هغی اشیاؤ په هکله څه ویل غواړو کوم چه سړی نشه کوی او د کومو نه چه انسان ته بی کچه نقصان رسي. کوم اشیاء چه سړی نشه کوی په هغو کښې سر فهرست شراب دي. د کومې د حرمت حکم چه په درې مراحلو کښې نازل شوی دي.

اوله مرحله:

خدای پاك فرمایی :

(و یسئلونک عن الخمر و المیسر قل فیهما اثم کبیر و منافع للناس و اثمهما اکبر من نفعهما)ط -۲:۲۱۹

ای پیغمبره ! دا خلق ستا نه د شرابو او جوارې په هکله تپوس کوی . ورته ووایه چې دی دواړو کښې ډیر لوی نقصان هم دی او فایدې پکښې هم دي. ولې نقصان یې د فایدو نه زیات دي.

د شرابو د حرمت په هکله دا اولنی حکم وو. په دی کښې د انسان عقل ته اپیل شوی دی چې د شرابو په څښلو کښې نقصان هم شته او فایده هم، ولې

دکسوتنکوالی، دخولی، سترګو او پوزی وچوالی، خفګان خواشینی او داسی نور.

د اوږدی مودی استعمال بل دیر مهم تاثیرئی دادی چه انسان پری اخته کیږی او بیا نشی کولای چه په اسانی سره تری لاس واخلی .

تمرین :

١- دچرسو ، سګرټو او هیروئینو ناوړه اثرات په وجود باندی څه دی ؟

٢- د مخدره موادو په اقتصادی ، اجتماعی ، او صحی مشکلاتو رڼا واچوی ؟

٣- دنشه ای سړی حیثیت د اسلام مقدس دین له نظره څه دی ؟

نشه ای موادو داستعمال اسباب او دلایل

Reasons and predisposing Factors for drug abuse

دا یوه طبعی خبره ده چه دهری بیماری یا اجتماعی مشکل د رامنځته کیدو په صورت کی باید دهغه عوامل وسنجولی شی تر څو دهغه دپاره مناسبه تداوی یا دحل لاره پیدا کړای شی .

داعتیاد په پیداکیدوکی مختلف عوامل چه ځنی ئی په مستقیم او ځنی په غیر مستقیم ډول اثر لری کارکوی پدی عواملوکی دبعضو اثر زیات او بعضو اثر کم وی.

لکه څرنگه چه دانسانانو شخصیتونه د یوبل سره فرق لری همدا ډول په دوی کی د اعتیاد عوامل هم مختلف وی.

په نشه ای موادو اعتیاد چه اوس ئی ځانته د یولوی اجتماعی مشکل شکل غوره کړی دی یو داسی واقعیت دی چه دناسالم اجتماعی، فرهنگی، جسمی، شخصیتی، روانی، سیاسی او تربیتی شرایطو له کبله رامنځته کیږی.

اعتیاد په نشه ای موادو نه تنها داچه دمختلفو عواملو لکه شخصیتی، سیاسی، اجتماعی او داسی نورو عواملوله کبله پیداکیږی بلکه پخپله هم دا عوامل رامنځ ته کوی.

دمثال په ډول دفقر او بیچارگی په نتیجه کی کیدای شی انسان دنشه ای

موادو په استعمال شروع وکړي اوهم اعتیاد کولای شي فقر او بیچارګي رامنځ ته کړي.

بعضې معتادین لیدل شوي دي چه د اعتیاد څخه مخکې ئې د عادي خلکو سره فرق درلود، ولی دمخدراتو دوامدار استعمال هم په عادي انسانانوکې داسې تغیرات رامنځ ته کړي چه هغې تغیراتو د اعتیاد په دوامداره کیدوکې مهم رول لوبولی دی.

دمخدره موادو استعمال یو اتفاقي او تصادفي خبره نده، بلکه دمختلفو محیطي او اجتماعي عواملو دکړیو د یوځای کیدو په نتیجه کې دیو زنځیر شکل ځانته غوره کوي او سړی د انحراف او غلطي لاري په طرف کشوي.

نولکه څنګه چه مخکې ورته اشاره وشوه دمخدره موادو استعمال دیوې بیماري په شکل رامنځ ته کیږي نو بهتره به داوي چه دهغې مختلف عوامل وسنجولی شي ترڅو په مقابل کې ئې مؤثر تدابیر ونیول شي . پدې برخه کې مختلفو متخصصینو، محققینو او نورو علماو نظریات وړاندې کړي چه په لنډ ډول به ذکر شي :

۱- فردي عوامل : دضعیف طبیعت خاوندان ، دخوند په خاطر، دکنجکاوی په خاطر، ساعت تیري لپاره، روحي او اجتماعي فشارونه ، ناپوهي، تقلید او داسې نور .

۲- اجتماعي عوامل : داجتماعي عدالت نشته والي، د مخدراتو پیداکیدل په منطقه کې، اجتماعي مشکلات او دردونه، طبقاتي ټولني او داسې نور.

۳ اقتصادي عوامل : کیدای شي فقر او بیچارګي د مختلفو عواملو له کبله رامنځته ته شي

خو يو شى چه د يادونى وړدى هغه دا چه كيداى شى ډيرى پيسى هم سړى په غلطه لار رهبرى كړى.

٤- سياسى عوامل : لكه جنګ، اواره ګى چه دجنګ په نتيجه كى منځ ته راځى او داسى نور.

٥- فرهنګى عوامل : بيسوادى چه د مخدراتومضر اثرات په ځان او په ټولنه ورته معلوم نه وى او دځانى او ټولنيزو مسئوليتونو څخه خبر نه وى.

٦- فاميلى عوامل : طلاق ، دكور دغړو ترمنځ خراب روابط، د پلار او مور بيسوادي، دفاميل په منځ كى د كوم غړى د مخدراتو استعمال، د اولادونو ترمنځ تبعيض، دپلار، مور، او اولادونو ترمنځ دنظر اختلاف، د مور او پلار ترمنځ جګړى، د اولاد په تربيت كى د مور او پلار بى توجهى، اولادونه يا ډير نازول يا ډير ترفشار لاندى نيول، د اولادونو سرزنش د نورو په مخكى او داسى نور.

٧- دعامه خبرتيا دوسايلو كردار : بعضى وخت كيداى شى دا وسايل مثبت رول ولوبوى او بعضى وخت هم منفى. اكثر راديوګانو، تلويزيونو، مجلو او داسى نورو وسايلو باندى دنشه اى موادو ښودل يا دهغى اعلانول كيداى شى چه ډير كم عمره خلك او نوى ځوانان وهڅوى چه دا مواد استعمال كړى.

دمخدره موادو داستعمال دلايل او عوامل دير زيات دى خو دومره بايد ذكر شى چه دا عوامل په مختلفو خلكو كى كيداى شى مختلف وى اوبعضى وخت كيداى شى چه مختلف عوامل سره يوځاى شى او يو سالم انسان دنشو په دام كى ښكيل كړى او دنابودى كندى ته ئى وغورزوى .

تمرين :

١- ايا ستاسو په نظر نور داسى دلايل او سببونه شته چه دمخدره موادو داستعمال دپاره لاره هواره كړى ؟

دنشه یا نو پیژندنه

Early Identification of drug Abusers

فکر کوم بی ځایه به نه وی که یو څه دنشه یانو په پیژندلو ځان پوه کړو ځکه که چیری مونږ هغه څوك چه نشه کوی هر څومره ژر وپیژنو او ورته لازم تدابیر ونیسو هغومره به ئی ژر تداوی او مخنیوی په اسانی سره وشی. دا به دنشه یانو دکورني، استادانو، امرینو، دکار ملگرو او دده نورو ملگرو سره کمك وکړی ترڅو دوی ژر دده په باره کی وپوهیږی خو یوشی دیادونی وړ دی چه په یو یا دوه نښو نښانو باندی دا فکر ونشی چه داسړی نشه ای دي، بلکه دهغه په باره کی مکمل معلومات پیدا شي. که د نشه ای عمر په نظر کی ونیول شی عموما د ٤٠ کالونه وروسته دیر کم خلك به وی چه په نشه شروع وکړی او هغه هم شاید کوم دماغی تکلیف ولری چه باید توجه ورته وشی ځکه څومره چه عمر زیاتیږی دسړی دژوند تجربی هم دومره زیاتیزی او یو قوی شخصیت پیدا کوی، دا ځوانان دی چه ډیر ژر احساساتی او مایوس کیږی دژوند دمشکلاتو سره پنجه نشی نرم کولای او دنشه ای موادو طرف ته میل پیدا کوی او خپله خوښی په هغی کی لټوی. نارینه عموماً ډیر نشه کوی خصوصا دنړی پدی برخه کی او ښځی ډیری کم لیدل کیږی چه نشه ای مواد استعمال کړی او که استعمال ئی کړی هم، شاید بعضی زړی ښځی به وی چه نصوار او چلم استعمال کړی. ځکه په دی ټولنوکی دښځو دپاره نشه کول لوی عیب دی او واقعا چه دا ډیر ښه کلتور او رواج دی. بعضی گروپونو. تبیلو یا منطقوکی چه دنشی ای موادو استعمال پکی رواج وی دهغی له مخی یو څه اندازه ویلای شو چه دا سړی

په نشه کوی او که نه، ځکه که څوك دمثال په ډول دچرسیانو سره ډیر ګرځی کیدای شی دی هم چرسی وی.

فامیل هم پدی برخه کی رول لوبوی ځکه په ازادو فامیلونوکی چه نشی ته دومره څوك بد نه وائی - یا په هغه فامیلونوکی چه مور او خصوصاً پلار دومره مشغول وی چه اولاد ته ئی فکر نه وی، یا په هغو فامیلونوکی چه پلار یا کوم بل دفامیل غړی نشه کوی د ده دنشه ای کیدو امکانات زیات وی.

دا خو وی عمومی خبری اوْ راځی وګورو چه اوس دیو نشه ای پخپله وجود او کردارکی څه تغیرات کیدای شی راشی وینو :

الف. ظاهری بڼه ئی

١- دده په ګوتو اوهم دبدن په نورو برخو او کالیو لکه دسګرتیانو عموماً یو اندازه زیړوالی ، او بعضی وخت د سوځیدو نښی نښانی لیدل کیږی .

٢- دسترګو تغیرات : ددوی په سترګو کی هم تغیر راځی لکه دمثال په ډول دچرسیانوسترګی همیشه سری وی او د افین نشه یانو دسترګو کسی همیشه ډیر تنګ وی .

٣- دوی اکثر وخت خپل دنظافت خیال نه ساتی .

٤- ګنکس او دکسالت احساس ورسره وی.

٥- خبری هم چه کوی خپل نورمال ډول خبری نه کوی او ژبه ئی بندیږی.

٦- کله کله دداسی شیانو شکایت کوی چه هغه موجود نه وی لکه په غوږونوکی داوازونو اوریدل نادر شیان لیدل یا دبعضی شیانو احساسول.

٧-څرنګه چه دوی دحادثاتو سره مخامخ کیږی شاید چه په وجودئی د زخمونو علایم ولیدل شی.

٨- هغه نشه یان چه دوا ځانته پیچکاری کوی دوجود په هغه برخو ئی چه دده لاس ورته رسیږی او پټ وی کیدای شی دستنو نښان ولیدل شي.

٩- دا ستنی څرنګه چه اکثر ناپاکی وی دستنو په ځایونو کی ئی دانی پیدا کیږی او هم رګونه ئی مکروبی او پړسیدلی وی.

ب : په عاداتو او روش کی تغیرات :

١- دوی کله ډیر زیات خوشحال وی او کله خفه، کله په قهر وی او کله ډیر ترس ورسه پیدا کیږی او هر چاته دشك په نظر ګوری چه دوی ته ضرر رسوی .

٢- دکار کولو قابلیت کی ئی کمی راشی ، که متعلم وی په مختلفو بهانو دمکتب څخه غیر حاضری کوی او که کارمند وی خپل کارته نه ځی یا کارته نا وخت ځي.

٣- ډیرو رخصتیو غوښتنه کوی .

٤- که نشه یان غریب وی دیر قرض غواړی او پیسو مصرف ئی هم دپخوا څخه زیات شی .

٥- بی حیا ژبه استعمالوی او بی شرمه کارونه کوی .

٦- ددینی فرایضو د اداکولو څخه هم غافل کیږی .

٧- نوی عادات پکی پیدا کیږی لکه دروغ ویل، غلاکول چه دخپل کور څخه غلاهم پکی شامله ده .

۸- دوی اکثر په خپلو ځانونو او کوټوکی خوشبوئی شیان استعمالوی تر څو د درا بوی پټ وساتي.

ب : اجتماعی تغیرات :

۱- همیشه گوشه گیری کوی دخلکو سره ئی عموماً کړه وړه کمیږی ځکه دی همیشه کوشش کوی چه ځان پټ وستی .

۲- دخپلی کورنی سره ئی علاقه کمه شی .

۳- دچاپه غم او خوشحالی کی اشتراك نه کوی .

٤- د پخوانیو ملگرو سره ئی رابطه کمه شی او ځانته نوی ملگری چه عموماً هغه هم نشه یان وی پیدا کوی .

۵- کله چیری دوی په داسی شرایطو کی وساتل شی چه یرُه شپه او ورځ ورته دوا ونه رسیږی او دوی ربتیا معتاد شوی وی دوی ته ډول ډول تکلیفونه لکه قهر غصه ، بی خوبی دسترگو او پزی څخه د اوبو جاری کیدل ، دځان شدید درد پیدا کیدل او داسی نور علایم چه مخکی ذکر شوی دی پیدا کیږی چه داهم کیدای شی یو ښه ټسټ وی چه په دوی وشی او ولیدل شی .

دا ور لند معلومات چه کیدای شی د محترمو فامیلونو ، استاذانو ، امرینو او د مریض ملگرو سره کمك وکړی چه دوی ژر ترژره نشه یان وپیژنی او لازم کمك ورسره وکړی .

د نشه ای شیانو مخنیوی

Drug Abuse prevention

د نشیء شیانو د مخنیوی مراحل : (Steps of Prevention)

په اوسنی وخت کی دنشیء موادو مخنیوی په دری لاندی مراحلو مشتمل دی :

۱- دمخنیوی لپاره لومړی قدم :

پدی کی دا هڅه کیږی چه ماشومان او ځوانان دنشی موادو داستعمال د شروع نه منع کړی. ددی مخنیوی لپاره خاصی طریقی استعمالول په کار دی لکه دنشیء موادو دخطر او ضرر نه عوامو ته خبر داری او تعلیم ورکول، ځوانانو ته مسلکی زده کړه ورکول، دهغوی روش اوعاداتو کی تبدیلی راوستل هغوی ته د نورو دلچسپه کارونو کتل، او دمعاشری له خوا د دوی مخه نیول، البته په لمړی مرحله کښی دغه اقدامات په نشی موادو د اخته کیدو امکانات کموی .

۲- دمخنیوی لپاره دوم قدم :

دهغو کسانو مخنیوی او اصلاح کول چه نشئی مواد کله کله او یا په تجرباتی لحاظ (د تجربی په شکل) استعمالوی او تر دغه وخته وریاندی بالکل نه وی عادت شوی دغه عمل په انفرادی صورت یو بل سره دکمك په نتیجه کی سرته رسیږی همدارنگه د دغو قسم نشئی موادو استعمالوونکی ته نصیحت کول، او هغوی ډاکتر ته وروستنه هم ډیر مفید ثابتیږی .

کامیاب مخنیوی دنشئی موادو داستعمال کمولو سبب گرځی .

٣- د مخنیوی لپاره دریم قدم :

دریمه طریقه دنشئی علاج کول او دهغه دوجود نه دنشی زهر لری کول (Detoxification) په طبی ډول سره او دهغوی مراقبت کول دی. دنشئی موادو دمخنیوی د کامیابیدو لپاره لازمه ده چه د هغو دواگانو په باره کښی چه په جاری ډول په غلط او صحیح ډول د خلکو له خوا استعمالیږی پوهه موجوده وی. د دواگانو دمحلی استعمال په باره کښی دقیق معلومات یوه ضروری خبره ده .

دنشئی موادو دمخنیوی هیڅ رنگه پروگرام به تر هغه وخته کامیاب نه شی تر څو چه دټولنی بعضی اشخاص لکه دمحلی حکومت مامورین، د ولس مشران، دینی علمأ، معلمین، تاجران، په دی باندی قانع او متقاعد کړای شیچه د دوی همکاری او مرستی ته ضرورت دی .

نقصان یی د فایدی نه ډیر زیات دی ، ښکاره خبره ده چی هیڅ یو معقول سړی هغه کار کله هم نه کوی په کومی کښی چی تاوان ډیر وی او نفعه کمه، دلته خلکو ته دا ترغیب ورکړی شوی دی چی پخپله ځان له تاوان مه ورکوئ. دوی په زور د شرابو د څښلو نه منع نه کړی شول. بلکه د نه څښلو معقول تجویز یی ورته وړاندی کړو.

دویمه مرحله:

بیا د شرابو په هکله دویم حکم راغی په دی کښی مومنان د نشی په حالت کښی د نمانځه نه منع کړی شول.

خدای پاك فرمایی :

(یا ایهاالذین آمنو لاتقربوا الصوة و انتم سکاری حتی تعلموا ما تقولون) . ٤٣/٤

ای مومنان ! د نشی په حالت کښی نمونځ مه کوئ تر څو چی تاسو په هغه څه و پوهیږی کوم چی تاسو په نمانځه کښی وایی.

دنشی په حالت کښی د انسان ذهن او حواس کار نه کوي. انسان په دی حالت کښی خپل توازن هم قایم نه شی ساتلی. په دی حالت کښی د ده په خپله ژبه قابو نه وي. د لیونو په شان بکواس کوی او فضول او لا یعنی خبری کوي.

په دی آیت کښی د انسان مذهبی جذبی ته اپیل وشو، چی نمونځ د مسلمان معراج دی او باید هله وشی چه د انسان حواس په ځای وی او حواس به یی هله په ځای وی چه نشه نه وي.

دمخدره موادو په مخنیوی کی دفامیل، ټولنی، حکومت، صحی او دینی تعلیم کردار

Role of Family,Community,Govt,Health and Religious Eduction in Drug Abuse Prevention

د فامیل رول : دمخدره موادو په مخنیوی کی د یوی کورنی رول ډیر مهم دی او هری کورنی ته لازم دی چه خپل اولاد دمخدره موادونه په امان کی وساتی . ددی کار دپاره کورنی مختلفی طریقی استعمالولای شی چه څو نقطی ئی دلته هم ذکر کول لازم دی :

۱- هره کورنی باید د ښو او بدو کارونو یو معیار ولری او دا معیار د کورنی غړی باید اول په خپل ځان تطبیق کړی .

دوی باید دخپلو ماشومانو لپاره ځان یو ښه مثال وګرځوی او پخپله دمخدره موادو داستعمال څخه ډډه وکری .

۲- خپلو ماشومانوته دمخدراتو دناوړه اثراتو پوره معلومات ورکړی هم دصحی او هم ددینی لحاظ څخه، او خپل اولادونه داسی وروزی چه دمخدره موادو په ضد پکی شعور پیداشی.

۳- دخپلو اولادونو دکړو وړو او ټولو اعمالو څخه خبروی.

٤- کورکی باید ماشومانو باندی بیځایه سختی او زحمت رانه ولی او دهر روحی فشار څخه کوښښ وشی چه لری ئی وساتی. په کورکی جنګ جګړی،

دماشومانو وهل ټکول، د اولادونو ترمنځ فرق راوستل، په اندکه خبره اولادته سزا ورکول او داسی نور کولای شی اولاد دمخدراتو په طرف مایل کړی.

٥- کورنی باید دماشوم ملگری او د هغوی کورنی وپیژنی او د هغوی دکورنیو سره ارتباط ولری.

٦- په کورکی دماشومانو سره ډیره مهربانه رویه وشی .

٧- دمکتب سره باید کورنی دوامداره رابطه وساتی .

٨- دمخدره موادو داستعمال کوونکو نښی نښانی ورته معلومی وی ځکه که چیری اولادئی په نشه شروع کوی ژرئی وپیژنی .

٩- خپل اولاد ته سه دتعلیم زمینه برابره کری .

١٠- خپلو ماشومانو ته هم باید اجاز ورنکړی چه دتلویزیون ټول پروگرامونه وگوری او دماشومانو پروگرام باید معلوم وی .

٢- دټولنی رول : دا یو مسلم حقیقت دی چه دمخدره موادو مشکل د یوکس یا ډلی کار ندی او دټولنی هر غړی چه په هر موقف کی قرار ولری باید دمخنیوی دپاره ئی اقدام وکړی ځکه که هر فرد دټولنی خپل مسئولیت اداکړی انشاء الله چه دا لعنت به د منځه ولاړ شی.

دټولنی کارکوونکی چه هغه کیدای شی مشران، دینی علمأ، معلمین، ډاکتران، تجاران او هر څوك چه وی باید پدی برخه کی فعاله ونډه واخلی. دا ددی خلکو وظیفه ده چه ټولنه کی دمخدراتو په ضد بیداری راپیدا کړی او ټولنه پدی وپوهوی چه واقعا چه یو بدلون ته ضرورت دی چه باید راوستل شی . دمختلفو خلکو سره که په انفرادی یا اجتماعی ډول وی تماسونه ونیول شی او بدلون لپاره کار وشی .

دحکومت رول : حکومت هم دمخدراتو په مخنیوی کی مهم رول لوبوی او غټ مسئولیت لری چه په لاندی ډول خلاصه کیږی :

- دمخدره موادو استعمال کوونکوته سزا ورکول .
- دمخدره موادو قاچاق بندول .
- ددی موادو په کرلو بندیز لګول او په ځای ئی د بل فصل رواجول .
- خلکوته دکار زمینه برابرول .
- ددی موادو خرڅوونکوته سزا ورکول .
- دمخدره موادو اضرار خلکوته د دستی جمعی وسایلو له لاری لکه رادیو ، تلویزیون او اخبارونو بیانول .
- په مکتبونوکی دمخدره موادو په اضرارو پروګرامونه برابرول .
- معتادینوته دتداوی شرایط برابرول او دهغوی په ټولنه کی بیا برحال کولو پروګرامونه ترتیبول .

صحی تعلیم :

- دصحی لحاظه خلك ددی موادو د اضرارو څخه خبرول .
- د معتادینو تداوی کول .
- په شفاخانو، کلینیکونو او نورو صحی مرکزونوکی منظم سیمینارونه ترتیبول .

دینی تعلیم : اسلام یو کامل دین دی چه همیشه انسان د ژوند په هر اړخ کی رهبری کوی او یو مکمل دماغی ، روحی ، جسمانی او اجتماعی صحت ته ئی متوجه کوی .

دا دین زمونږ په انفرادی او اجتماعی ژوندکی د زیږیدو څخه ترمرګه پوری یو دوامداره اثر لری .

مونږ ته اسلام اجتماعی ژوند راښائی چه د خپل ځان، اولاد، ښځی، کورنی، ملګری، ورور، همسایه او داسی نورو سره څنګه ګذاره وکړو .

له بله طرفه زمونږ په اسلام مین هیوادوال دینی علماوته ډیر زیات داحترام او قدر په سترګه ګوری او دوی همیشه په دی ټولنه کی دټولو نه لوړ مقام لری .

نوکه چیری دینی علمأ خلکوته دمخدره موادو دمخنیوی په ارتباط دینی تعلیم ورکړی دا به دټولونه مهمه وسیله وی .

دا یومنل شوی او ثبوت شوی حقیقت دی چه په اسلامی نړی کی دمخدره موادو مخنیوی دپاره بهترینه لار خلکو ته دینی تعلیم ورکول دی ، ددی خبری د ثبوت دپاره مونږ ویلای شو چه هغه وخت چه دریم وارد شرابو دبندولو په هکله قرآنی ایت نازل شو .

نو خلکو دخپلو خولو څخه شراب وغورزول او دشرابو ټول لوښی ئی مات کړل چه دمدینی منوری په ښارکی دشرابو ویالی بهیدلی .

نو زه په دی پوره مطمئن یم چه که دینی علماء خلکوته دمخدراتو د حراموالی فتوا صادره کړی او خلکوته دینی تعلیم ورکړی انشاءالله چه دا ټولنه به دمخدراتو د لعنت څخه خلاصه او آینده افغانستان به یو اسلامی او دمخدراتو او منکراتو څخه پاك افغانستان وی .

تمرین :

۱- مخنیوی څو مرحلی لری بیان ئی کړی ؟

۲- ستاسو په نظر په افغانستان کی به په اوسنی حالاتوکی کومه طریقه ډیره موثره وی ؟

۳- که چیری تاسو مذهبی مشر، دقوم مشر او یا طبی داکتر یاستی نو تا سوبه د نشه ئی موادو مشکل څنګه حل کړی ؟

د ټولنې بدلون

(Community Change)

دټولنې بدلون څه ته وايي؟

دټولنې دبدلون څخه مقصد دادی چه دهغو خلکو په افکارو او کړو وړو کښې تغير راوستل شي، کوم چه په دغه ټولنه کښې ژوند کوي. ډير عوامل د يوې تولنې په بدلون کښې اغيزه لري ، دغه عوامل کيدای شي چه بهرني وي او يا د ټولنې په داخل کښې منځ ته راشي. تنها هغه عوامل چه دټولنې په دننه کښې منځ ته راځي، کولای شي چه په تولنه کښې ديو دوامدار واقعي بدلون سبب وګرځي حال دا چه بهرني عوامل کولای شي چه د ټولنې د ژوند شکل ته تغير ورکړي د مثال په توګه دجنګ يا مهاجرت په حالتونو کښې . خو کله چه دغه عوامل له منځه لارشي نو ټولنه خپل اصلي حالت ته راګرځي او دخلکو په افکارو او روش کښې کوم خاص تغير نه ليدل کيږي . يواځې هغه تغير چه د ټولنې په دننه کښې په شعوري ډول د خلکو په افکارو او کړو وړو کښې راغلی وي ديو دوامدار انکشاف سبب ګرځي .

دټولنې په بدلون کښې څلور مرحلې موجود دي :

١- د بدلون لپاره ضرورت پيدا کول .

٢- د بدلون د ملاتړ لپاره تماسونه نيول .

٣- د بدلون لپاره کار کول .

٤- د بدلون مستقر کول .

١- دبدلون لپاره ضرورت پيدا کول :

پخوا تر دي چه د بدلون کومه مرحله شروع شي، نو دا لازمه ده چه په خلکو

کښي د بدلون راوستلو د ضرورت په ارتباط ، پوهه او اګاهي راپيدا کړي شي. د يو موجود پرابلم په باب عمومي خبر داري ورکول ددي معنی نه لري چه خلك يو تغير او بدلون غواړي بلکه د خلکو په منځ کښي د يوی غوره ټولني د رامنځته کيدو فکر بايد موجود وي او ددغسي ټولني د رامنځته کيدو لپاره دکار کولو امکانات موجود وي، پخوا تر دي چه کوم کارته اقدام وشي .

۲- د بدلون د ملاتړ لپاره تماسونه نيول :

د ټولني لارښودونکي بايد فکر وکړي چه کوم خلك دنشئی شيانو دناوړه استعمال دحالت په بدلون کښي، د هلو ځلو مرسته کوي، او د دي سره دلچسپي لري. دغه خلك کيدای شي چه انفرادي اشخاص وي لکه سياسي او مذهبي مشران او يا د کورني غړي، او يا هم کيدای شي چه يوه ډله وي کله معلمين، ټوله کورني او داسي نور.

د دغه خلکو سره د دي هلوځلو او کار کولو په منظور بايد ارتباط تينګ شي.

۳- د بدلون لپاره کار کول :

دبدلون لپاره نيکي هيلي او ارادي لرل بايد په عمل بدلي شي. لکه لکچرونه ورکول، د افرادو سره خبري کول، د نشه يانو سره د نشي د پريښودو په برخه کښي کمك کول، او مشرانو خلکوته د نشئ شيانو د ناوړه استعمال د ضررونو په باره کښي درس ورکول .

٤- د بدلون مستقر کول :

کله چه په ټولنه کي بدلون شروع شو، نو دا مهمه ده چه دغه کارته دوام

ورکړی شی، یو ځل کوښښ نشی کولای چه په ټولنه کښی تغیر منځ ته راوړی. د دی لپاره چه راغلی تغیر مستقر کړای شی نو دټولنی فعالیت او خبرتیا باید دوام پیدا کړی .

دغه ټول عوامل او غوښتنی دټولنی دلارښودونکی په هغه فعالیت چه په ټولنه کښی یی دنشی شیانو د ناوړه استعمال په ضد کوی، تاثیر اچوی .

د ټولنی په بدلون کښی د ټولنی د لارښودونکی رول :

لارښودونکی کولای شی په ټولنه کښی د مختلفو خلکو سره تماس ونیسی. دغه تماس دټولنی د موجوده جوړښت له مخی، چه هغه کیدای شی چه کورنی وی افراد وی او یا هم یوه ډله او گروپ، ترسره کیدای شی.

لارښودونکی د تماس نیولو څخه رومبی باید پدی وپوهیزی چه دی څه غواړی دمثال په ډول دنشئی شیانو په رابطه دټولنی مشکلات چه دنشی شیانو د استعمال څخه راپیدا کیزی په خپله دنشی شیانو موجودیت او دنشئی شیانود ناوړه استعمال په باره کښی فکر وکړی.

هغه وسیلی چه د ټولنی لارښودونکی تری کار اخلی عبارت دی له هغه ریسرچ نه چه ده سرته رسولی ، هغه تریننگ چه ده ته ورکړی شوی ، هغه معلومات او مواد چه دټولنی دخبرتیا لپاره ئی استمالوی .

لارښودونکی به مجبور وی چه په ټولنه کښی په مختلف ډول رول ولوبوی .

دگروپ ترمنځ ابتدائی مباحثه :

لارښودونکی او دټولنی د کار کوونکو رول او مسئولیتونه په یوه تولنه کښی کوم دی چه دوی ئی باید سرته ورسوی؟

لارښودونکی ښائی چه یو ماهر شخص وی او په خپله رشته کښی مشخص علم او پوهه ولری چه دغه پوهه به د ټولنی په اختیار کښی ورکوی او ټولنی ته به صحیح لار په گوته کړی چه که ممکن وی هغوی ئی تعقیب کړی .

لارښود ښائی چه یو مربی او ښوونکی وی هغه به دا مسئولیت ولری چه په ټولنه کښی هغو خلکو ته تریننگ ورکړی البته په محدوده پیمانه چه دهغی غوښتونکی وی .

لارښود به دهغه چارول هم لوبوی څوك چه دخلکو پرابلمونه حلوی او دخپلو تجربو په رڼا کښی به دنشی شیانو د پرابلمونو په برخه کښی کوم چه په ټولنه کی موجود دی دحل لاری وړاندی کوی او پدی ارتباط به تجویز نیسی.

په همدی ترتیب به اهل خبره کښی دهغو منابعو او تدابیرو تشخیص کوی چه په ټولنه کښی موجود دی او د پرابلمونو دحل لپاره ورنه استفاده کیدای شی .

د پورته ذکر شوو کارونو څخه مهم رول د ټولنی دلارښود نی لپاره دادی چه نوموړی دتولنی دیو افاقی کتونکی په حیث په خپله ټولنه نظر ولری او خپله ټولنه وپیژنی چه دهغی ارزښتونه څه دی چه پدی توگه وکولای شی په موثره توگه دخلکو سره په تماس کښی شی او له هغوی نه دنشی موادو د پرابلم په هکله پوښتنی وکړی .

- خلکو کښی بیداری راپیداکول :

دا دهغه کوښښونو څخه عبارت دی چه دهغی پواسطه ټولنی ته نوی تصورات او معلوماتونه وړاندی کړی شی چه دهغی په اثر به ټولنه کښی د

خلکو اجتماعی او صحی کړه وړه بدل شی.

عامه خبرتیا او بیداری دیو سلسله معلوماتی او تحرك پیدا کوونکو نظریاتو څخه عبارت ده چه دهغی مقصد په خلکو کښی پوهه زیاتول او دکړو وړو تغیرول دی دعامه اگاهی د پروگرام په لاره اچولو هدف دادی چه خلك په خپل منځ کښی دمسایلو په هکله بحث مباحثی وکړی او هغوی پدی رابطه اقدام کولو ته وهڅوي.

دعامه بیداری مبارزه څه شی سرته رسولی شي؟

۱- دیوی مسئلی پیژندنه دمثال په توگه د یو حقیقت ، حالت او شکل څخه خبرتیا .

۲- په یو موضوع کښی دخلکو دلچسپی زیاتول .

۳- دکړو وړو تغیرول .

٤ د سلوك بدلولو لپاره هڅونه .

۵- دنوو مهارتونو زده کول .

- دمنځگړی تحریکول او تشویقول :

دمنځگړی تعریف : یومنځگری هغه شخص دی چه هغه دخپلی پیشی او اجتماعی مقام له وجهی دا قدرت او قابلیت لری چه دنورو خلکو دنشئی موادو په استعمال باندی اثر وغورزوی .

- دمنځگړی سره دکار کولو گټی او فایدی عبارت دی له :

۱- دنفوس او ټولنی مخصوصو گروپو او ډلو ته په اسانه او زیاته اندازه سره رسیدل .

مثال « یو ډاکترد نورو ډاکترانو سره په تماس کې وي» .

۲- د اعتبار زیاتیدل : هغه پیغام چه دیو محترم او منل شوی شخص لخوا . ټولنی ته راځی په دی باندی دټولنی د غړو ډیره زیاته عقیده وی .

مثال :- دیو دینی عالم په پیغام باندی خلك دیره عقیده او اعتبار لری .

۳- دمنابعو زیاتول :

هغه منابع او شتمنی چه د -Multiplicator- سره موجوده وی کیدای شی دنشئی موادو په ضد پیغامونو کښی استعمال او صرف شی .

مثال : - که چیری یو سیاستمدار او یا پیر دیوی مبارزی ملاتړ او حمایت وکړی دهغه پیروان به هم ددی مبارزی حمایت کوی .

د- دمنځګړو ډیر مثالونه شته دی :

دوی کیدای شی افراد وی لکه اشراف، استاذان (معلمان) مشران، ملکان، والدین، دینی علما او داسی نور. دوی کیدای شی چه ډلی او گروپونه وی لکه سیاسی گوندونه، غیر حکومتی سازمانونه او اداری مذهبی اداری، صحی سازمانونه لکه شفاخانی، مکتبونه او داسی نوری اداری.

دریمه مرحله:

د شرابو په هکله دریم حکم داسی راغی :

(یا ایها الذین آمنو انما الخمر و المیسر والا نصاب و الا زلام رجس من عمل الشیطن فاجتنبوه لعلکم تفلحون * انما یرید الشیطن ان یوقع بینکم العداوة والبغضاء فی الخمر والمیسر ویصدکم عن ذکر الله وعن الصلوة فهل انتم منتهون).

(٥:٨٩، ٩٠)

ترجمه: ای مومنانو ! شراب، جواري، آستاني(بتان) او په غشو قسمتونه معلومول دا ټول گنده کارونه دي. دا د شیطان کارونه دي. نوځان تری نه وساتئ چی کامیاب شئ، د شیطان خو کار دا دی چی ستاسو په منځ کښی د شرابو او جواریٔ په وجه دشمنی او بغض پیدا کړی او د خدای پاك د یاد او لمانځه مو منع کړي- نو آیا! تاسو ددی کارونو نه منع کیږی او کنه؟

په دی آیت کښی شرابو ته رجس یعنی گندگی او غلاظت ویلی شوی دی - نو د هوښیارانو خلقو په نزد شراب غلاظت او گندگی ده - دا د شیطان کار هم دی - او کله چی شراب گندگی هم ده او د شیطان کار هم دی نو بیا یو مسلمان چی صفت یی د هوښیار دی، دا کار څنگه کولی شي.

و گوریٔ د شیطان خو کار دا دی چی د آدم په اولاد کښی تفریق راولی او په منځ کښی یی دشمنی او کرکی پیدا کړی او دغه رنگ دوی د یو بل نه نفرت او کرکه وکړی - دا یو دنیاوی فساد دی چی شیطان یی زموږ په منځ کښی د شرابو په وجه پیدا کول غواړي.

د شیطان دا کار هم دی چی موږ د دوزخ لوگی او خشاك جوړ کړي- او د

د نشه ای شیانو په مخنیوی کی د ښوونکو رول

Role of Teachers in Drug Abuse prevention

ځرنګه چه یو ماشوم وده کوی په دی دوران کی دمختلفو فردی او ډله ایزو مشکلاتو سره مخامخ کیږی چه یو ددی مشکلاتو دجملی څخه ددوا ناوړه یا ناجایز استمال دی .

نوی ځوانان د دواګانو په باره کی دمختلفو منابعو څخه مختلف معلومات تر لاسه کوی همدا د ډلی ملګری چه کیدای شی همزولی یاهم صنفیان وی د غلطو معلوماتو مهمه منبع ده. دنوی ځوانی عمر داسی مرحله ده چه د فامیل او ملګرو سره په روابطوکی تغیر راځی او د ملګرو نظر او مفکوری ته پکی زیات اهمیت ورکول کیږی او هم داشیورروسته دنشه ای موادو استعمال سبب کیږی. ځکه بعضی وخت دوی دملګرو دخوشحالی دپاره هغه دواګانی چه ورته دملګرو لخوا وړاندی کیږی استعمالوي.

په دی مرحله کی دښوونکو لپاره زیات ضرورت لیدل کیږي ترڅو دشاګردانو سره په دی برخه کی داسی کمک وکړی چه شاګردان وکولای شی دهغو فشارونو او خواهشاتو سره چه دوی ورسره مخ دی لار او پنجه نرم کړی. ځکه دوی په دی وخت کی د ډول ډول بهرنیو فشارونو سره لکه دهمزولو فشارد دعامه خبرتیا وسایلو د اثراتواوداسی نورو سره لاس او ګریوان وي

ځرنګه چه دوی د پوخوالی یا بلوغ په طرف قدم ږدی نولازم دی چه ددوی ضروریات او خواهشات په نظر کی ونیول شی او داسی شرایط ورته برابر

شي چه په صنف کې دخپلو مشکلاتو ازاد بحث وکړای شي او دحل دپاره ئې لارې وسنجول شي .

استادان څه کولای شي ؟

١- په تعلیمي نصاب او غیر نصابي فعالیتونوکې دنشه ای شیانو د مخنیوی تعلیمي پروګرمونه ځایول :

دنشه ای شیانو دمخنیوی په یو موثر تعلیمي پروګرام کې سالم بدن او سالم دماغ ته خاص اهمیت ورکول کیږي او د بدن دفعالیتونو، شخصي عادتونو او دهغوی تاثیر په صحت باندې او ددواګانو تاثیرات په وجود، دا ټول معلومات پکې ورکول کیږي.

په لمړینو ټولګیوکې شاګردانو ته دحفظ الصحی، شخصي عادتونو، دواګانو او زهري موادو معلومات او دهغو دواګانو په باره کې زده کړه ورکول کیږي چه دوی ورسره مخامخ کیدای شي.

د دواګانو په باره کې تعلیم کیدای شي چه دموجوده مضامینو سره یوځای شي یا د غیر نصابي مربوطو فعالیتونو له لارې لکه تمثیل، مناظرې او نمایش ور کړای شي. ښوونکي باید دنشه ای شیانو دتعلیمي موادو په برخه کې محتاط وي او داسې مواد راجمع کړي چه هغه د پیژندل شوي ضرورتونو، علاقې، ودې، انکشاف دصحي تعلیمي سویې او دتعلیم دمختلفو سطحو په بنیاد ولاړ وي او دا مواد وخت په وخت ارزیابي او د نور زیات ښه والي لپاره پکې تغیرات راوستل شي .

دا مواد باید سخت او نه بدلیدونکي نه وي بلکه د مختلفو شرایطو سره لکه

مذهبی، اقتصادی، اجتماعی، کلتوری او دټولنی دضرورتونو سره سم بدلیدونکی وی ځکه مختلفی ټولنی مختلف، ضرورتونه اوخصوصیات لری.

۲- دماغی او جسمانی صحت ته وده ورکول:

دا ضرور نده چه دنشه ای شیانو همیشه خلکوته دویری او خوف نه ډك اثرات بیان شی ، شاگردانوته دا هم باید وښودل شی چه وجود څنگه فعالیت کوی او د فزیکی، کیمیاوی او احساساتی عواملو تاثیرات پدی فعالیتونو څه دی او نشه ای مواد دوجود په فعالیتونو څنگه اثرات لری .

شاگردانو ته باید د مسئولیت احساس ، په ځان باور ، عزت النفس او داسی نور مسایل وښودل شی ځکه ددی پورته شیانو په موجودیت کی یو شاگرد کولای شی که چیری دنشه ای موادو داستعمال سره مخامخ کیږی یو معقول تصمیم ونیسی .

۳- مسئولانه تصمیم نیولو ته وده ورکول : بعضی عوامل چه دمسئولانه تصمیم نیولو دپاره گټور ثابتیږی په لاندی ډول دی

رابطه : که څوك یو خیال یا نظر بل چاته رسوی نو امکان لری چه دا خیال یا نظر دده دژوند په طرز العمل کی هم شامل شی .

متبادلات یا نوری لاری چاری : ځوانانوته په زړه پوری او مثبت متبادلات یا کارونه پیداکول لکه سپورت ، مناظره ، تمثیل او داسی نوری سرگرمی.

معلومات : رویه او سلوك همیشه دمختلفو قواو او فشارونو دعکس العمل او معلوماتو پیدا کولو په نتیجه کی منځ ته راځی، که دیو چاسره کافی معلومات نه وی شاید بی ځایه تجربه کولوته لاس واچوی.

عزت النفس: په انسان کی دعزت النفس احساس پیدا کول ډیر مهم دی ځکه که هغه دځان په باره کی پوهنه او مثبت فکر ولری ددی امکان به ډیر کم وی چه هغه منفی نظر یا روش خپل کړی .

دفیصلی کولو طریقه : یو صحیح او پرځای فیصله کول د ډیر وخت او تجربو څخه بعد کیدای شی اود صحیح فیصلی دپاره دا لاندی شیان کیدای شی کمك وکړی:

- دیوی مسئلی په باره کی پوره معلومات راټولول .
- دحقیقت او نظر ترمنځ فرق کول .
- دیو کار کولو مختلفی طریقی سنجول او دهغوی نتایجو باندی غور کول.

لنډه دا چه استادان چه د نشه ای موادو دمخنیوی کومی لاری سنجوی په هغی کی لاندی شیان باید په نظر کی ونیسی :

- هر شاگرد ته دانسان په سترگه وگوری .
- د نشه ای شیانو په باره کی پوره معلومات ورکړی .
- او په شاگردانو کی دعزت النفس احساس پیداکړی .

تمرین :

۱- دنشه ای موادود مخنیوی دپاره په شاگرد کی د عزت النفس پیدا کولو اهمیت څه دی؟

۲- که چیری تا سو د یو ښوونکی په حیث د نشه ای شیانو استعمال مشکل په خپل مکتب کی وروینی دهغی دمخنیوی دپاره به څه لاری چاری وسنجوی ؟

د مخدره موادو په باره کی د شاګردانو معلومات زیاتول د تعلیمی نصاب له لاری

Upgrading Students awareness on Drugs Through School Curriculum

په اوسنی وخت کی اکثر پلان جوړونکی او تصمیم نیوونکی په دی نظر دی چه ددی وخت د قسم قسم مشکلاتو د حل لاره دزده کړی ورکولو له لاری ممکنه دی اوبس . اوس دمکتبونو پروګرامونه دهغه عنعنوی مضامینو لکه فزیك، کیمیا، تاریخ او داسی نورو ترڅنګ د نورو ضرورتونو او تقاضاو لکه صحی تعلیم، دمحیط ساتنه او دمخدره موادو مشکل سره مخامخ دی.

اوس اکثر خلك پدی متفق شوی دی چه د مخدره موادو مشکل فقط اجرائیوی قواوی نشی حل کولای اوددی لپاره دتقاضا کمولو لار بهترینه لاره ده چه کیدای شی خلکو ته دمخدره موادو د ضررونو دتعلیم ورکولو له لاری حل شی .

په مختلفو وختونو او مختلفو مملکتونوکی دتعلیم او تربیتی پلان جوړونکو غونډی وکړی ترڅو داسی لاری چاری ولټوی چه دا نوی مشکلات په تعلیمی نصاب کی داخل کړی ځکه دمکتبونو مضامین همدا اوس هم ډیر زیات دی .ځینو مملکتونو کی نوی پروګرام ته یو علیحده فصل جوړ شو او بعضی مضامینو باندی ئی علاوه کړ لکه په چین کی دنفوس دکنترول او سریلانکاکی دمحیط ساتلو مشکل اوداسی نور.

اکثر مملکتونو ونشو کولای چه پخوانی مضمون دتعلیمی نصاب څخه وباسی

او پرځای ئی بل مضمون معرفی کړی .

نو دوی یو نوی سیستم رامنځته کړو چه هغی ته تزریقی سیستم (Infusion System) وائی دا سیستم دپاکستان، هند او نیپال په تعلیمی نصاب کی هم معرفی شو.

مخکی لدی چه دا سیستم معرفی شی په پاکستان کی یو لړ سوالونه رامنځ ته شول لکه :

- په کومه مرحله کی دا تعلیم شروع شی ؟
- په څه رقم شروع شی ؟
- کومی موضوگانی او څرنگه معرفی شی ؟
- معلمینوته څرنگه تربیت ورکړل شی ؟

دوی بعد له ډیرو معلوماتو راغونډولو تزریقی سیستم غوره کړ ځکه چه په دی سیستم کی په استاد او شاگرد کارنه زیاتیږی او هم د مخدراتو موضوع د بعضی مضامینو لکه اسلامیاتو اجتماعی او سیانسی علومو سره اړه لری چه په دی صورت سره که په پورته ذکر شوو مضامینو کی داخل شی نو ښه به یاد هم شی .

دمثال په ډول د لمانځه په برخه کی دا حکم دی چه هرکله انسان نشه وی لمانځه ته دی مه نږدی کیږی نو په دی برخه کی متعلمینو ته ویلای شو چه ټولی هغه دواگانی چه د انسان دماغی حالت گډ وډ او انسان نشه کوی استعمال ئی حرام دی .

همدا ډول په فزیولوژی کی چه د وجود د مختلفو اعضاو وظایف بیانوی ویلای شو چه د مخدراتو بد اثرات په هغه اعضاو او دهغی په فعالیتونو څه

ډول دی او په همدی مضمون کی استاد کولای شی دمختلفو نشه ای دواگانو په باره کی شاگردانوته معلومات ورکړي. دتذریقی سیستم گټی په لاندی ډول دی :

١- په شاگردانو دمضامینو فشار نه زیاتیږی .
٢- هره موضوع په هماغه صحیح موقع ورته ویل کیږی .
٣- دمخدراتو دموضوع مفهوم دنوروموضوعاتو سره ښه پوهول کیدای شی.

پوشی چه په دی سیستم کی مهم دی هغه دادی چه استادان باید پوره تربیت کړای شی ترڅو هغه موضوع چه راځی ورته سرسری فکرونه کړی او هم بعضی موضوعات چه ډیر مهم وی په هغی باندی زیات فشار واچوی لکه دپوښتنو په شکل ، تمثیل ، مباحثی او داسی نور .

دمخدره موادو دمخنیوی تعلیم په پاکستان کی د (٦-١٠) صنف پوری ورکول کیږی او لاندی شیان پکی شامل دی :
١- ښه صحت او صحی ژوند کول .
٢- دمخدره موادو اثرات بیانول او دهغوی بد اثرات شاگردانوته ورپه گوته کول .
٣- په مملکت کی دمخدره موادو دمشکل نه شاگردان خبرول .
٤- دمخدراتو اثرات په ټولنه، فرد او دمخدراتو اقتصادی او اجتماعی مشکلات .

په امریکا کی دمخدراتو موضوع د ابتدائی څخه شروع کیږی او دالاندی اهدافو باندی کارکیږی:
١- ښه صحت ته ارزښت ورکول، دهغی ساتل او مخدراتو اثر په صحت باندی .
٢- هغو قوانینوته احترام لرل چه مخدرات منع کوی .

٣- خلکوته خبر داری ورکول چه کوم وخت دمخدراتو د استعمال دفشار سره مخامخ کیږی دهغوی سره مقاومت وکړی .

٤- هغه فعالیتونوته وده ورکړی چه په هغی کی دمتعلمینو ددوا څخه ازاد ژوند باندی تاکید کیږی .

داؤ یو لنډ معلومات چه وړاندی شو او امید دی چه استادان تری پوره ګټه واخلی .

دمخدراتو د اضرارو څخه دمتعلمینو خبرول به داسلامی افغانستان دتعلیم او تربیی دمقاماتو کار وی چه څرنګه پروګرامونه جوړ کړی تر څو خپل ځوان نسل داسی وروزی چه دمخدراتو څخه ازاد ژوند وکړی او خپل هیواد ته چه واقعا دبیا ابادیدو دپاره ډیرزیات کارته ضرورت لری دقدر وړ خدمتونه وکړی .

تمرین:

١- ستاسو په نظر افغانستان کی دمخدره موادو داستعمال دمخنیوی بهترینه لاره څه ده ؟

٢- دمخدراتو څخه پاك مکتبونو دلرلو دپاره څه کارونه باید وشی ؟

٣- ایا ستاسو په نظر دمخدره موادو داګاهی پروګرام په تعلیمی نصاب کی داخلول ضرور دی او که نه ؟ او که ضرور وی په کومه طریقه باید داخل شی؟

تربیوی طریقی

(Training Methods)

د یو ښه استاد دپاره دټولو نه مهمه خبره چه باید په نظر کی ونیسی هغه داده چه د مطلوبو خلکو خصوصیات لکه تعلیمی سوابق، عمر، دکار تجربه، دموضوع په ارتباط ددوی روش او نظر او داسی نور موضوعات په نظر کی ونیسی ترڅو دهغی مطابق ورته تربیتی پروګرام او مواد تهیه کړی.

دمثال په ډول ځوانان همیشه د اوږدو لکچرونو څخه ستړی کیږی ولی معلمان او پوهان ورسره عادت وی .

یا هغه چاته چه هیڅ د طبابت سره اشنا نه وی که طبی اصطلاحات په درس کی استعمالیږی کیدای شی چه اوریدونکی تری پوره استفاده ونه کړای شی.

دتربیت ورکولو دپاره دشرایطو مطابق مختلفی طریقی دی چه په لاندی ډول خلاصه کیږی :

١- دسوال او ځواب په شکل : دا شکل استاد ته دا موقع په لاس ورکوی چه وپوهیږی چه زده کوونکی دموضوع سره څومره اشنائی لری، او څه غواړی چه پری وپوهیږی. پدی طریقه کی په اوله مرحله کی یو څو سوالونه کیږی چه کیدای شی دا سوالونه ازاد وی یا بند.

آزاد سوالونه هغه دی چه دبحث دپاره پکی ځای وی لکه :

- ولی مخدره مواد باید استعمال نشی ؟
- مخدره مواد څه ضررونه لری ؟

بند سوالونه هغه دی چه مشخص ځواب غواړی او د بحث دپاره پکی ځای نشته لکه :

ایا ستاسو په فکر مخدره مواد ټولنی دپاره مضر دی اوکه نه ؟

- ایا ستاسو په کلی کی څوك مخدره مواد استعمالوی ؟

آزاد سوالونه اکثرا ښه وی ځکه ډیر معلومات پکی لاسته راځی . دسوال او ځواب په طریقه کی لاندی ټو ټکی په نظر کی ونیول شی :

١- سوالونه باید ساده او واضح وی . دسوال کولونه پس لږ وخت ورکول. ترڅو شاگرد دهغه په باره کی فکر وکړی ، او هم دشاگردانو سوالونوته وخت ورکول؟ددرس دخلاصیدونه بعد د استاد معطل کیدل په صنف کی ترڅو هغه شاگردان چه غواړی په تنهائی سوال وکړی موثر تمامیږی ؟

٢- ازاد بحث : په دی طریقه کی ټول زده کوونکی موقع تر لاسه کوی چه په بحث کی شریك شی او د یو او بل تجربو څخه گټه واخلی. پدی کی گروپونه باید کوچنی وی، بحث دیر اوږد نه وی ، زده کوونکی په هماغه موضوع باندی بحث وکړی او استاد متوجه وی ترڅو هغه څوك چه په بحث کی برخه نه اخلی په بحث کی شریکیدو ته تشویق کړی. بحث باید په ارامه فضاکی ترسره شی .

٣- عملی ښوونه : په دی طریقه کی استاد په عملی ډول یو کار ښائی او هم ئی تشریح کوی . پدی کی باید استاد دشاگردانو سوالونه ځواب کړی. په شاگردانو باندی هم کار تکرار کړی او که غلطی ولری باید اصلاح شی .

٤- رواجی لکچرونه : دا هغه تیاری کړای شوی موضوگانی دی چه زده کوونکو ته وړاندی کیږی .

داسی کولو دپاره د ده حکمت عملی دا ده - چی دی موږ د خدای پاك د یادو نه د هغه د احکامو او ږمانځه نه غافل کړي- او دا دی د شرابو په وجه ډیر په بڼه شان سره کولی شي- گورئ دا یو دینی فساد دی چی شیطان یی د شرابو په ذریعه په موږ کښنی پیدا کول غواړي.

دا ټول نقصانونه او ضررونه د اسلام په نظر کښنی وو نو ځکه یی انسان د شرابو د څښلو نه منع کړو- هم دا آیت د شرابو په حرام کیدو قطعی دلیل دی.

ددی نه علاوه اسلام د شرابو په حرام کولو دومره زور ولی راوړی دی؟ نو دا ځکه چی اسلام هر یو مؤمن قوي، متوازن، عقلمند او د هوش او حواسو مالك غواړي. او په دی کښنی هیڅ شك نشته، چی شراب د انسان شخصیت ډیر زیات متاثره کوي. دده قوت مزاحمت ختموي. او خصوصا دده په عقل او هوش او حواسو ډیر منفی اثر غورځوي. اوکله چی د انسان عقل او هوش و حواس مفلوج شی نو بیا یو شریر او سرکش حیوان جوړ شي. او دده نه بیا داسی خراب کارونه کیږی چه سړی یی تصور هم نه شی کولی. بیا دی قتل، دشمني، بی حیایي، رازونه برسیره کولو او د ملك او قوم سره دشمنی کولو ته هم تیار وي.

بیا د انسان دا شر او فساد یوائځی دده په ځان اثر نه غورځوی بلکه ددی اثر بیا دده په گاونډی دوستانو او هر هغه سړی کیږی د چا چی دده سره څه نه څه تعلق وي، دی خو یو ذمه دار فرد دی. دده په ذمه د ډیرو خلقو حقوق دي. د هغی ادائیگی دده په ذمه فرض ده. د نشی په وجه چی دده قوتونه کمزوری شی نو دی بیا دا حقونه نه شی ادا کولی. دی یوائځی خپل ځان ته

او دښه تفصیل دپاره پکی بعضی وخت دسمعی او بصری موادو څخه هم استفاده کیږی ددی ډول طریقی یو نقص دادی چه ټول زده کوونکی پکی برخه نشی اخیستلای .

۵- ډرامګۍ: په دی طریقه کی ګډون کوونکی داسی خبری او اعمال ترسره کوی لکه پخپله چه دهغه چا په موقف کی وی چه پکی دبحث موضوع وی . دمثال په ډول هغه څوك چه دنشه یانو تمثیل کوی خبری ګډوډی ، ژبه ئی بنده او د رفتار موازنه ئی برابره نه وی .

۶- دګروپ په شکل کار : دلته صنف په مختلفو ګروپونو ویشل کیږی تر څو هغه کار یا مهارت چه دوی ته ښودل شوی پخپل منځ کی پری بحث وکړی .

۷- قصی : دقصی په شکل د یوی موضوع بیانول دوه فایدی لری یوه داچه موضوع په زړه پوری وی او بله داچه بیسواده خلك هم تری استفاده کولای شی .

۸- اسلامی بحث : په اسلامی ټولنه کی که چیری دیوی موضوع په ارتباط یو ایت شریف یا حدیث شریف بیان او بیا تشریح شی ډیر به موثر وی .

۹- د زده کوونکو اذهان په کار اچول : پدی کی ټول برخه وال په مسلسل ډول او همزمان د موضوع په ارتباط خپل نظُریات بیانوی دچا خبره پکی نه رد کیږی او نه پری انتقاد کیږی ځکه مطلب دلته دادی چه مختلفی نظرئی راجمع شی .

دپریښودنی علایم

(Withdrawal Symptoms)

که چیری یو انسان یوه مخدره دوا د اوږدی مودی لپاره استعمال کړی نو دی د دوا سره تحمل اتکا او اعتیاد پیدا کوی .

په اتکا او اعتیاد کی دوا دده دجسم یوه برخه گرځی او وجودئی د دوا د دوامدار موجودیت سره ځان عیاروی . دا یوه فزیولوژیکی مسئله ده . په دی کی وجود کی داسی تغیرات راځی چه که دا دوا وجود ته ونه رسیږی یا دفعتاً بنده شی وجود د دوا دنشته والی له کبله یو شدید عکس العمل ښائی چه دی عکس العمل ته د دوا دپریښودنی علایم وائی .

دا یو داسی حالت دی چه پکی بعضی فزیولوژیکی مراحل چه د دوا په موجودیت کی متوقف شوی وو ددوا په نشتوالی کی ډیر زیات فعال کیږی.

چه دا حالت په دوه مرحلوکی صورت نیسی چه اول ئی حاد ډول دی چه د (۲-۷) ورځو پوری دوام کوی بیا هم ددی شدت د دوا په مقدار ، پخپله ددوا نوعیت او داستعمال په موده پوری اړه لری .

دوم حالت ئی اوږد حالت دی چه هفتو او میاشتو پوری د اولنی حالت دتیریدونه وروسته دوام کوی . دا حالت دومره شدید نه وی او اکثر په اراموونکو، نارکوتیکو دواگانو او الکول کی منځ ته راحی .

دپریښودنی علایم د دوا دحاد تاثیراتو معکوس دی . دمثال په ډول د اپینو خوراك سره انسان ته خوشحالی، ارامتیا پیدا کیږی، درد نه حس کوی،

قبضیت، دسترګو، خولې او پوزې وچوالې ورسره وي، دسترګو کسې ئې تنګ، په قراره تنفس او وجود ئې ګرم وي. دپرېښودنې علایم څرنګه چه تاثیراتو دحاد حالت معکوس دې عبارت دی له :

- د بې قرارۍ احساس او دپرېښودنې دعلایمو څخه وېره .
- قهر، خفګان .
- دسترګو او پوزې څخه داوبو جاري کېدل .
- زړه بدوالی او کله هم استفراق .
- اسهال او دګېډې درد .
- دسترګو دکسو پراخوالی .
- د بدن دمختلفو برخو دردونه .
- د تنفس تیزوالی او داسې نور.

د دوا تاثیرات چه دڅومره اوږده وخت دپاره دوام کوي دپرېښودنې علایم ئې په قراره راځي او ډېر وخت دپاره دوام کوي ، او هغه دواګانې چه ژر تاثیر کوي دپرېښودنې علایم ئې هم ژر پیداکېږي او د لږ وخت دپاره دوام کوي .

لکه د هیروئینو دپرېښودنې علایم چه ژر شروع کېږي او لنډ وخت دپاره دوام کوي لیکن د میتادون تاثیرات ناوخت شروع کېږي اود اوږدې مودې پورې دوام کوي .

یو شی چه دیادونې وړدی هغه دادی چه بعضې خلك چه دیوې څخه په زیاتو دواګانو باندې متکې وي کیدای شي چه دیوې دوا په واسطه نشه او په عین وخت کې دبلې دوا دپرېښودنې علایمو سره لاس په ګریوان وي. دمثال په ډول هغه خلك چه هم اراموونکې (Sedative) او هم په نارکوتیکو دواګانو

باندې اتکا ولرې کیدای شي چه د ارامونکو دواګانو داستعمال له کبله نشه او بې حاله وي او په عین وخت کي ئې دپوزې نه اوبه جاري وي، زړه بدوالی ولرې په تشویش اوقهرجن حالت کي وي او اسهال ولرې چه دا حالت دنارکوتیکو دپرېښودنې علایم دي .

د پرېښودنې علایم کیدای شي هر وخت چه ددوا داستعمال وخت راورسیږي انسان ته پیداشي نولدې کبله اکثر خلك چه کار کوي کوښښ کوي چه دکار دتګ نه مخکې په سهار کي دوا استعمالوي ترڅو دکار تر اخره پورې پرې دپرېښودنې علایم رانشي .

څرنګه دوی ناڅاپه او په ناخبره ډول په اضافه کارې کي راګیرشي دپرېښودنې علایم پرې شروع کیږي وجودئې سست او دکارکولو توان ئې راکمیږي او په مختلفو بهانو غواړي وخت پیدا کړي چه هغه ځای ته ځان ورسوي چه دوا ورته پیداکیږي .

بعضې خلك له همدې ویرې چه دکار په وخت کي پرې دپرېښودنې علایم رانشي دځان سره په جیب ، بکس یا موټرکي دوا ساتي او هروخت چه په ځان پوه شي چه دپرېښودنې علایم پرې راځي، ځان دنورو ملګرو او همکارانو څخه ګوښه کوي او دوا استعمالوي .

تمرین

۱- دپرېښودنې علایم ولې پیدا کیږي ؟

۲- دپرېښودنې علایم څو مرحلې لرې بیان ئې کړې ؟

۳- څنګه کولای شو دپرېښودنې علایم په اسانې سره یاد کړو ؟

د دواڅخه د بدن دپاکولو طریقی

(Detoxification Methods)

دنشه ای علاج په دوه برخو ویشل کیږی ، چه اول ئی ددوا څخه دبدن پاکول Detoxification او دوهم دهغه څخه وروسته مراقبت او په ټولنه کی بیا برحال کول (Rehabilitation) دی.

- **ددوا څخه د بدن پاکول:** (Detoxification) هغه څوك چه وغواړی نشه پریږدی کیدای شی په لاندی مختلفو طریقو سره ئی علاج وشی .

۱- پخپله دنشی پریښودنه : په دی طریقه کی یو قوی عزم او ارادی ته ضرورت دی او پکی دنشه ای ملگری او کورنی دیر مهم رول لری .

پدی کی مریض او کورنی دواړوته معلومات ورکول کیږی چه د دوا دپریښودو په صورت کی به دوی ته څه ډول تکلیف پیدا شی، یعنی دهمغی دوا دپریښودنی علایم ورته وپوهول کیږی، خو پوښی چه دیادولو وړدی هغه دادی چه هغه تکلیفونه باید په دومره اندازه ورته ونه ښودل شی چی مریض او کورنی دهغی څخه په ترس کی شی. هغه دواگانی یا هدایتونه چه ده او کورنی ته ئی ورکول کیږی په صحیح ډول تعقیب شی .

۲- کولد ترکی میتود : (Cold Turkey Method)

پدی طریقه کی مریض ته هیڅ ډول دوا نه ورکول کیږی فقط نشه ای په داسی شرایطو کی ساتل کیږی چه دوا ته ئی دسترس پیدا نشی . نشه ای په یوه کوټه کی چه تشناب ولری ساتل کیږی ، خوراك او څښناك ورته ورکول

خو هيڅ ډول دوا نه ورکول کيږي که هر څومره تکليف هم پرې راشي . خلك ددې طريقې په هکله دوه نظريات لرې:

- يو گروپ خلك دا نظر لرئ چه په دې طريقه کې مريض باندې زيات تکليف تيريږي او دا يوه ظالمانه طريقه ده او وائي چه که دا خلك دعلاج نه وروسته نورو نشه يانوته دا قصه وکړي نور نشه يان به تداوی ته حاضر نشي .

- دوم گروپ خلك دا نظر لرې چه دا طريقه ښه ده ځکه دابې مصرفه طريقه ده او بل داچه دپريښودنې علايمو سره نشه يان بلد دې ځکه هر وخت چه دوی ته دوا ونه رسيږي دا تکليف ورته پيدا کيږي او دوی ته دا کوم نوی کار ندې .

۳- اعراضي تداوی (Symptomatic Treatment) : په دې طريقه کې مريض باندې دوا قطع کيږئ او که هر تکليف ورته پيدا شي دهغې دوا ورته ورکول کيږي .

٤- تدريجي پريښودل (Gradual Withdrawal) : په دې طريقه کې معلومات د مريض نه اخيستل کيږي چه څومره دوا ، کومه دوا او په ورځ کې څو واره استعمالوی او دهغې نه وروسته ورته عين دوا ورکوی خوپه داسې شکل چه مريض پوه نشي چه دا عين دوا ده دکپسول په منځ کې ورته اچول کيږي بعد له هرو څو ورځو په کپسول کې د دوا مقدار راکموی ترڅو دې حدته ورسيږي چه مريض ته کپسول کې داسې مواد اچوی چه هيڅ هغه دوا نه وی او گوری که مريض ته کوم تکليف پيدا نشي نو په مريض باندې کپسول قطع کوی .

دا پورته ذکر شوی رقم د تداوی طريقې کيدای شي د شفاخانې څخه دباندې هم تر اجرا لاندې ونيول شي .

٥- متبادله تداوی (Substitution Therapy) : پدی کی مریض ته د اولی دوا په ځای چه دی ئی استعمالوی بله دوا چه خطرئی دهغی څخه کم وی ورکوی لکه دهیروئین په ځای دمیتادون استعمال. میتادون د(٢٠-٤٠ ملی گرام) پوری په اوله ورځ ورکوی او مقدار ئی ورو ورو زیاتوی تر څو(١٢٠) ملی گرام ته ئی دورځی مقدار ورسیږی او بعد له هغی د دوامقدار په هره هفته کي(١٠) فیصده را کموی تر څو (٢٠) ملی گرام ته دورځی را ورسیږی او دهغی نه وروسته ئی په هر هفته کی (٣) فیصده راکموي.

٦- طبی تداوی : په دی طریقه کی مریض بستر کیږی او دوینی فشارئی کنترولیږی . بیا یوه دوا چه (Clonidine) په نوم یادیزی مریض ته ورکوی او نشه ای مواد قطع کوی او په مریض هیڅ ډول تکلیف هم نه راځی . څرنگه چه دا دوا په طبابت کی دوینی دفشار دکمولو دپاره استعمالیږی نو هغه څوك چه دا دوا ورته استعمالیزی ، فشارئی باید کنترول شی .

٧- اکوپنکچر یا دستنو وهلو طریقه : په دی تداوی کی چه نوی رواج شویده دبدن په بعضی برخوکی ستنی وهل کیزی او دمریض اشتهاورو ورو ددوا دپاره کمیزی او دوا پریږدی .

یوه خبره چه دیادونی وړ ده هغه دا چه په باربیچوریت معتاد مریضان باید دشفاخانی څخه د باندی تداوی نشی ځکه دا دمرگ خطر لری .

بعد له دی تداوی دمریض مراقبت او دده په تولنه کی بیرته برحال کول ډیر زیات ضروری دی اوکه توجه ورته ونشی کیدای شی بیرته دا خلك دنشی په طرف پناه یوسی .

تمرین :

په دا پورته طریقو کی ستاسو په نظر کومه طریقه مناسبه او موثره ښکاری ؟ دلایل ئی وراندی کړی.

دځوند پخوانی حالت ته راګرځیدنه

(Rehabilitation)

دملګرو ملتونو دلارښودنی کتاب (دنشه ای شیانو ذناوړه استعمال لپاره دغوښتنی دکمولو په هکله) د Rehabilitation تعریف داسی کوي:« داهغه مراحل دی‌چه په کوم کښی چه دمخکنیو نشیانو سره کمك کیږی چه داسی حالت ته راوګرځی چه په روحي، بدني، او اجتماعی ډول سره په دی قادر شی چه دهغه حالاتو سره مقابله وکړی چه دوی ورسره مخامخ کیږی او دوی په دی قادر وی چه دهغه سهولتونو څخه ګټه واخلی چه دوی ته موجود دی او دی او دتولنی نور افراد تری ګټه اخلي». Rehabilitation ددی وجهی نه باید دتولنی دهغه کوششونو مهمه برخه وی چه دنشیانو دنشی نه دخلاصولو دپاره کیږي.دکار پیدا کول او کارته دوام ورکول ددی مراحلو یوه نه بیلیدونکی برخه ده. کار پخوانیو نشه یانو ته عزت، مسئولیت او استقلال ورکوي. دکارپیدا کول په عمومی ډول سره ډیر مهم ګڼل کیږی چه دافرادو لپاره تشخص او په ټولنه کی ځای فراهم کوي. دنشه یانو د دوباره بحالی تصور په دی بنا دی چه په دی قادر وی چه خپل او سنی حالت ته تغیر ورکړی او ټولنی ته راوګرځي. دا ددی معنی لری چه هغه دداسی حالت نه راوګرځی چه په تولنه باندی ډیر منفی اثرات لري. ددی مراحلو مقصد دا دی چه دا نشیان باید نوی ټولنیز مهارتونه زده کړي. ددی دوه مهمی برخی دي:

دنشئ شیانو داستعمال دپریښودلو پخه اراده او ددی دپاره موقع مساعدول.
دنشئ شیانو دپریښودلو اراده نشئی پوری اړه لري. او دموقع مساعدول په ټولنی پوري.

Rehabilitation. باید داشخاصو دشخصي خصوصیاتو په اساس وشي.

Rehabilitation. دپاره کومې خاصې اساني طریقې نشته. دهغه تعریف مطابق چه دنشې شیانو دکنترول نړیوالی ستراتیژۍ او پالیسي په کتاب کښې لیکل شوی د Rehabilitation مقصد او رول عبارت دی دهغه پروګرامونو او سهولتونو برابرولو څخه، کوم چه نشیان په دی قادر وی چه دوباره تولنی ته راوګرځي او دټولنی په کارونو کښې مثبت رول ولوبوي».

دنشیانو دنشې نه دخلاصولو په لارکې دعلاج پروګرامونه باید سر د اول څخه د Rehabilitation. او ټولنی ته د دوباره شاملیدلو اقداماتو سره اړیکې ولري».

په اوسنی وخت کی دنشیانو لپاره په خپله دنشې نه خلاصولو او دوباره بحالی لپاره دوه نظریات شته دی اول نظر دادی چه نشیان هغه خلك دی چه دنشې داستعمال ژوندیي په خپله دځان لپاره غوره کړی دی او په دی قادر دی که دوی وغواړی چه ځان دنشې نه خلاص کړي. او دوباره بحالی هغه وخت ښه اثر لرلی شی که چیری نشه یان په خپله ددی اراده، عزم او شوق ولری چه دنشې نه ځان خلاص کړي.

دوهم نظر دادی چه دنشیٔ شیانو استعمال دهغه پخوانی ارادی او عواملو نتیجه ده په کومو کی چه نشئی هیڅ شخصی کنترول نه لری هغه ددوباره بحالی پروګرامونه چه ددی نظر مطابق مینځ ته راځی دنشه یانو لپاره ټول تصمیمونه نیسی او دهغه لپاره اجباری علاج برابره وي.

په ډیرو ملکونوکی ددوباره بحالی لوی مقصد دنشې شیانو داستعمال څخه په مکمل طور پرهیز کول دي. ولی ددوباره بحالی په بعضی پروګراموکی

دنشی شیانو استعمال دیوی خاصی وظیفی لپاره هم یو قانونی او دمنلو وړ مقصد ګڼل کیږی دمثال په طور دمعتادینو دساتنی پروګرامونه دکومو مقصد چه ګناه او جرایمو نه دخلاصی زندګی څخه دي. دجرایمو مرتکب کیدو څخه قانونی مصروفیت او کارته اوښتل. کیدی شی دنشی شیانو داستعمال څخه د بالکل خلاص ژوند لپاره لاره برابره کړي. دوباره بحالی یو ټولنیز او هراړخیز کوشش دی کوم چه دټولني، کورنی او پخپله دنشیانو کار او عزم ته ضرورت لري.

نقصان نه رسوی بلکه ټوله معاشره د ده په دی عمل متاثره کيږي. هم دا وجه ده چی شرابو ته په احاديثو کښی ام الخبائث ويلی شوی دي.

عن عبدالله بن عمرو بن العاص (رض) ان النبی صلی الله عليه واله وسلم قال : الخمر ام الخبائث.

شراب د ټولو خرابو جرړه ده - داروايت د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص (رض) نه شوی دی. هم په دی روايت کښی د حديث شريف الفاظ داسی راغلی دي:

الخمر ام الفواحش. شراب د ټولو بی حيايو جرړه ده. نو چی کوم ځيز ته حديث شريف کښی ام الخبائث او ام الفواحش ويلی شوی دی ، هغی ځښل به څنگه نه وی حرام ؟

د حضرت انس (رض) نه روايت دی وايی چی رسوال اللهﷺ په دی کسانو ډير بد ويلی دي:

د شرابو نچوړونکی، کشيدکوونکی، ځښونکی، وړونکی او چی چاله وړلی شی د هغه ځښوونکی، خرڅونکی - ددی گټه خوړونکی، اخيستونکی او د چا لپاره چی اخيستلی شی په هغه.

اوس راځی چی لږ غوندی د شرابو په نقصاناتو نور هم غور وکړو.

عالمان وايی چی د شرابو په نقصاناتو او ضررونو کښی د شك يا شبهی هيڅ گنجايش نشته. ځوك چی شراب ځښی هغه د هغه په جسم او اخلاقو ډيربد اثر کوي. او نتيجه يی دا وی چی دا بيا په ټوله معاشره ډيره ناکاره اثر غورځوي. دليل يی دا دی چی د علمايی دين، علمايی طب، علمای اخلاق،

دمعلوماتو پاڼی

FACT SHEETS

هیروئینو په باره کښی دمعلوماتو پانه :

پیدایښت: هیروئین داپین څخه جوړیږی چه علمی نوم ئی (diacetyl mor-phine)دی او داول ځل لپاره په کال۱۸۹۸ کی په جرمنی کی تولید کړای شول. دغه نشئی دواته دهیروئین نوم ددوا دیوی نوی کمپنی له خوا ورکړ شو او هیروئین په نوم ئی ټولی دنیا ته صادراو خرڅ کړل.

قانونی حقایق: دهیروئینو اخستل خرڅول او ساتل غیر قانونی دي.

داستعمال اثرات ئي: هیروئین داپین په شان وی خو تاثیرات ئی ډیر زیات دی خلك هیروئین معمولاً څکوی او یائی سونوی هغه څوك چه هیروئین استعمالوی پری عادت او اخته کیږي.کله چه دهیروئینو استعمال پریښودلی شی نو پریښودونکی باندی دغه تکلیفونه راځی لکه دمعدی ګډوډ والي، اسهال، کانګی کول، په لاسونواو پښوکی دردونه پیدا کیدل او دوجود رپیدل چه دغه حالتو ته دپریښودنی علائم Withdrawal symptoms وائی. هغه څوك چه په زیاته اندازه هیروئین استعمالوی او بیا نور ترلاسه نه کړی نو دمریضی احساس کوي. نو په دی اساس دوی دهیروئین استعمال ته دوام ورکوی تر څودمریضی دغه احساس له ځانه لری کړي.

طبی‌حقایق:

دلنډی مودی اثرات: ئی عبارت دی له ارامتیاچوپتیااو لوږی له منځه وړل.

داوږدې مودې اثرات: که هیروئین په منظم ډول استعمال شي نو استعمالونکی پرې عادت او اخته کیږي او که چیرې پریښودل شي نو دپریښودنې علایم Withdrawal symptoms وربانـدې څرګندیږي سره له دې چه هیروئین دانسان وجود ته زیان رسوی خو په ناپاکو شرایطوکې دهیروئینو داستعمالونکی ژوند داخطر نور هم زیاتوي.

اجتماعي حقایق: دهیروئینو استعمالونکي معمولاً ډیر ژر خوار او بې وزلې کیږي ځکه چه هیروئین دنورو نشئي موادو په نسبت ډیر ګران دي او پرې اخته کسان مجبور دي چه دهیروئینو داخستلو لپاره کافي پیسې پیدا کړي څرنګه چه هیروئین اشتها له مینځه وړي نو استعمالونکي ئې اکثراً خوار او ډنګر وي او خپل پاکوالي او نظافت ته هیڅ توجه نه کوي. دغه حالات ددې حقیقت څرګندونه کوي چه پوډریان یا هیروئین استعمالونکي په اکثرو ټولنوکې په اسانۍ اوډیرښه پیژندل کیږي.

دغه تکلیفونه او ضررونه چه دهیرتوئینو استعمالونکي ته پیدا کیږي ټول یوازې دهیروئینو طبي اثرات ندي ځکه چه دهیروئینو استعمالونکي وضع او حالت پکې هم شامل دي.

دآرام او خوب راوستونکو دواګانو په باره کی د معلوماتو پاڼه

پیدایښت: Tranquilizers دګولیو او کپسولو په شکل کی جوړیږي، دا دواګانی دفابریکو پواسطه جوړیږی او په زیاته اندازه سره په دواخانو او شفاخانو باندی خرڅیږي.

قانونی حقایق: Tranquilizers دډاکترانو نسخو په اساس باندی ددواخانو نه اخستل کیدای شي.

داستعمال اثرات ئي: په کمه اندازه خوراك ئی یو شخص ته ډیره ارامتیا پیداکیږی تاثیرات ئی څه نا څه دشرابو په څیر دی که چیری یو سړی څودانی ګولی وخوری نودی نه شی کولای چه کارونه په صحیح او محفوظ ډول سرته ورسوی دمثال په ډول دموټر چلول، ځکه چه دهغه ذهن ددی ګولیو په اثر ګډوډ کیږي.

طبیحقایق:

دلنډی مودی اثرات: Tranquilizers دشرابو په شان دوجود هغه سرعت چه په هغی کی ذهن او بدن عکس العمل ښکاره کوی کموی او دحادثو دپیښیدو امکانات زیاتوي.

داوږدی مودی اثرات: که چیری خلك Tranquilizers دیوی زیاتی مودی لپاره وخوری او بیائی پریږدی نو دوی ښائی چه دخفګان او عصبانیت احساس وکړی او په مشکل سره ویده شي. نوځکه ډیرو خلکو ته مشکله ښکاری چه د Tranquilizers خوړل پریږدي.

اجتماعی حقایق: ترانکیولایزرونه اکثراً دمخدره دوا په حیث نه ګڼل کیږی او خلك ئی ددواپه حیث پیژني. خلك زیاتره ددی لپاره ترانکیولایزرونه نه خوری چه دوی مریضان وی بلکه ددی لپاره ئی خوری چه دوی څه دنارامی احساس کوی او غواړی چه ذهناً خپل دغه احساس بدل کړي.په دغسی حالت کی دوا په نشئی شی بدله شی داکتران په اسانی سره خلکو ته ترانکیولایزرونه ورکوی خاصتاً ښځوته. اکثراًدغه ښځی او سړی په دی نه پوهیږی چه دوی به پدی دوا اخته شی او ددی خوړلو ته دزیات وخت لپاره دوام ورکوي،ځکه چه دوی فکر کوی چه دایوه دواده اونشئی شی ندي.

دتماکو په باره کی دمعلو ماتو پاڼه

پیدایښت: تماکو د Nicotianaدبوټی دپاڼو څخه جوړیږی اودغه بوټی په ډیرو ملکونو کښی کرل کیږي.

قانونی حقایق:هرڅوك کولای شی چه تماکو واخلی تولید ئی کړی (وئی کري) خرڅ او استعمال ئی کړي. دتماکو داستعمال لپاره اعلانونه په ځینی ملکونوکی منع دي.همدارنگه په بعضی ملکونو کښی دتماکو استعمال په عامه ځایونو، عامه ترانسپورت او داسی نورو ځایونو کښی منع دي.

دتماکو داستعمال اثرات: تماکو معمولاً په سگرټ اوچلم کښی څکول کیږی او دنصوارو په شکل دخولی او پوزی له لاری هم استعمالیږي. دتماکو اثرات تقریباً سمدستی حس کیږي.په اول ځل استعمال سره ئی سړی دمریضتیا او گنگستیا احساس کوي. تماکو دمنظم ډول استعمالونکی لپاره اراموونکی او عین زمان کی پارونکی دي. دادتماکو دمعماؤ Riddle څخه یو معما ده.

طبی‌حقایق:

دلنډی مودی اثرات: معمولاً دتماکو په استعمال سره دزړه حرکت او تنفس تیزیږی او خلك دلږی لوږی احساس کوي.

داوږدی مودی اثرات: دتماکو په منظم ډول استعمال سره کیدای شی چه سړی ته دسږو مشکلات پیدا شی لکه دسږو سرطان Lung cancer که دتماکو یو منظم استعمالوونکی دتماکو څکول پریږدي(خوشی کړي) هغه دناراحتی احساس کوي، خفه اوژرقاریدونکی به شي.

اجتماعی حقایق: دتماکو کله کله استعمال په عمومی ډول سره دنشئی موادو

داستعمال یو جدی عمل نه ګڼل کیږی او حتی هغه څوك چه ډیر تماکو استعمالوی هم دنشئی شیانو ناوړه استعمالوونکی نه ګڼل کیږی لاکن دغه یو بد عادت دی چه باید دخپل صحت په خاطر ئی ترك کړي.

داپین په باره کښی دمعلوماتو پاڼه

پیدایښت: اپین دکوکنار دبوټی څخه لاسته راځی اپین دډیرو پخوا زمانو نه خلکو د دواپه حیث پیژندلی او د ۶۰۰۰ کالو راهیسی ئی خلك د دوا او زهرو په حیث استعمالوي.

ددنیا لوی او مهمی داپین تولیدونکی سیمی عبارت دی له: **طلائی هلال** (Golden Crescent) (ایران، افغانستان، پاکستان)او (Golden triangle) (برما ، تایلند،لاوس) څخه.

قانونی حقایق: په قانونی ډول داپینو تولیدول د International Narcotics control Board دنارکوتیکو دکنترول بین المللی بورد لخوا اداره کیږی ددغه اندازه اپین نه پرته چه INCB دکنترول لاندی ددوا جوړولو په منظور تولیدیږی نور هر قسم تولیدی ئی غیر قانونی دي.

داپین داستعمال اثرات: اپین څکول او خوړل کیدای شی اپین یو آرامونکی او مسکن ماده ده چه استعمال ئی خلك ارامول او خوب وروليي. همدارنگه اپین داسهال، ذکام اودرد دارامولو لپاره د دواپه حیث استعمالیږي.

طبی‌حقایق:

دلنډی مودی اثرات: دلنډی مودی اثرات ئی عبارت دی له آرام راوستنی او داحتمالی قبضیت څخه.

داوږدی مودی اثرات: که اپین په منظم او مسلسل ډول وخوړل شی نو دانسان وجود ورسره عادت کیږی که چیری ئی استعمالوونکی وار دواره استعمال بند کړی نو په نوموړی شخص باندی دپریښودوعلایم پیدا کیږي.

دا علائم عبارت دی له سخت زکام، په معده کی ګډوډي، په پښواو لاسونوکی دردونو او دوجود د ریږدیدوڅخه.

اجتماعی حقایق(تولنیز واقعیتونه) : اپین د پیړیو پیړیو راهیسی په مختلفو ملکونوکی د دواپه حیث استعمال شویدی غیر له دی چه ډیر خلك ورباندی معتاد addict شی که څوك داپینو په استعمال باندی معتاد شی نو نوموړی تنبل او خوب نیولی ښکاري. په کلو کی ئی بعضی وخت زاړه خلك په منظم ډول استعمالوي.

دچرسو په باره کې دمعلوماتو پاڼه

پیدایښت: چرس او بنګ Cannabis sativa بوټی څخه جوړیږی نو ځکه په علمی Scientific نشراتوکی چرس، بنګ او ددی بوټی نوراجزا د Cannabis دنامه لاندی ذکر کیږي. چرس Cannabis داول ځل لپاره په مرکزی اسیا کی پیدا شول او ددی ځای نه داشیا نورو برخو اوټولی دنیا ته خپاره شول.

قانونی حقایق: دچرسو Cannabis کرل، اخستل، خرڅول او ساتل غیر قانونی دي.

داستعمال اثرات ئي: کله چه چرسی چرس وڅکوی آرام وی او خاندي، آواز ښه اوری او رنګونه ورته واضح ښکاري. بعضی خلکوته ئی په استعمال سره پریشانی پیدا کیږي. دچرسو داستعمال تاثیرات دیو څو دقیقوڅه وروسته شروع کیږی او تر یو ساعته دوام کوي.

طبیحقایق:

دلنډی مودی اثرات: چرسی په مشکل سره په یو شی باندی ذهن متمرکز کولای شي او حرکاتو کی ئی سستی راځي.

داوږدی مودی اثرات: چرس دهیروئینو په شان ډیر اخته کوونکی نه دی دچرسو ډیر استعمال کیدای شی چه دسږو تکلیفونه پیدا کړي.

اجتماعی حقایق: خلك زیادتره دچرسیانو په باره کی داسی نظر لری چه دوی تنبل او سست دی ډیر خلك چرس په بعضی مواقعوکي، خصوصاً کله چه نارینه سره ټولیږی استعمالوي، ډیری لږی ښځی دنشې لپاره چرس اویانور غیر قانونی مواد استعمالوي.

B
6.54
ISR
4891

ددوا ناجایز استعمال په حقیقت کی تولنیز مشکل دی او حل ئی هم یو تولنیز اقدام غواړی.

دټولنی ټولی برخی چه په هغی کی والدین، معلمان، ځوانان، پولیس، دینی علمأ، قومی مشران او حکومتی مامورین هم شامل دی، باید په ګډه کار وکړی ترڅو ددی مشکل اسباب او عوامل د منځه یوسی.

دا خصوصاً د ځوانانو وظیفه ده چه پدی برخه کی فعاله ونډه واخلی او په ټولنیزه سطحه دی مشکل ته د حل لاره پیدا کړی.

علمای معاشرتی علوم او علمای معاشی علومو نه په دی هکله تپوس وشو. نو دی ټولو وویل چی دا قطعی ممنوع دی. ځکه چی ددی په نقصان کښی د شك او شبهی هیڅ گنجایش نشته.

علمای دین وایی چی شراب ځکه حرام دی چی داد ټولو خرابو جرړه ده.

علمای طب وایی چی شراب د انسان دپاره ډیر زیات خطرناك دي. دا نه یواځی ده ته بی کچه نقصان رسوي. بلکه په راتلونکی ژوند کښی هم د شرابو نتائج ډیر تباه کوونکی وي. په دی خطرو کښی یوه خطره دا ده چی دا پرپوس (سږی) تباه کوي. دا په وجود کښی قوت مزاحمت ختموي. اینه خو ډیره زیاته متاثره کوي. د وجود اعصابی نظام بیخی خرابوي. او ددی په وجه دماغی امراض هم ډیر را پیدا کیږي.

علمای اخلاق وایی چی انسان ته په کار ده چی دی د خپل جسمانی توازن پاك دامني، شرافت، عزت، بهادری او خود داری حفاظت وکړي. ولی شراب په دی ټولو ښو صفاتو ډیر زیات اثر انداز کیږی نو اسلام ځکه دا منع کړی دي.

د معاشرتی علومو د علماؤ خیال دی چی د یوی ښی معاشری دپاره د امن او نظم و ضبط ډیر ضرورت دی. او کوم اشیا چی د معاشری امن او نظم و ضبط ته نقصان رسوی د هغی د کولو یا د هغی د استعمال ممانعت لازمی وي. گنی بیا په معاشره کښی انتشار، فساد او بد امنی پیدا کیږي. او شراب یو داسی څیز دی کوم چی دا ټولی خرابی را پیدا کوی نو ځکه اسلام دا منع کړی دي.

د معشیاتو عالمان وایی : چی کومه روپۍ او پیسه چی موږ پر خپلی فایدی

دپاره خرڅ کوو هغه زموږ او زموږ د قوم دپاره د قوت او ترقی سبب گرځي.
او کومه پیسه چی موږ په خپل نقصان خرڅ کوو هغه زموږ او زموږ د قوم او ملك دپاره نقصان باعث گرځي. نو کومی په کروړونو روپۍ چی د قسماقسم شرابو په درآمد اود هغی په څښلو خرڅ کولی شی هغه نه یواځی موږ په اقتصادی ډول کمزوری کوی بلکه زموږ انفرادی او قومی غیرت هم خاوری ایری کوي.

ولی شراب څه ته وایی؟ ددی جواب په ډیرو احادیثو کښنی ذکر دی. خلاصه یی دا ده چی کوم څیز هم سړی نشه کوی هغه که د هر څه نه جوړ وی ، خو هغه په شرعی ډول د شرابو په حکم کښنی دی، او حرام دي.

د حضرت ابن عمر (رض) نه روایت دی چی رسول اللهﷺ د خدای فرمایلی دی :

«کل مسکر خمر و کل خمر حرام».

ترجمه: هره نشه کونکی څیز د شرابو په حکم کښنی دی او هر شراب حرام دی (نو هر نشه کوونکی څیز حرام دی) په صحیحینو کښنی راغلی دی چی حضرت عمر(رض) یو ځل په منبر ودریدو او ویی ویل :

«ایهاالناس انه انزل تحریم الخمر وهی من خمسة اشیاء : من العنب والتمر والعسل والحنطة والشعیر والخمر ما خاد العقل».

ای خلقو ! د شرابو حرمت راغلی دی. او شراب د پنځو څیزونو نه جوړیږي.
د انگورو نه، د خرماوو نه، د شهدو نه، د غنمو نه او د وربشو نه. او په یو بل روایت د جوارو نه هم شراب جوړیږي.او شراب هغه دی کوم چه سړی نشه

دښوونکو لپاره د مخدره موادو په هکله معلومات

الوكالة الإسلامية للاغاثة – افغانستان

دملگروملتونو دمخدره موادو دکنترول نړیوال پروگرام د
افغانستان د پروگرام دفتر

لمړی چاپ : ١٤١٥ هجری / ١٩٩٤ میلادی

دمضامینو فهرست

عنوان	صفحه
سریزه	الف
منشیات د قرآن او احادیثو په رڼا کی	۱
د نشه ای شیانو دمخنیوی اوکنترول نړیوالی معاهدی اوقراردادونه	۱۵
د نشه ای شیانو دمخنیوی بین المللی طریقی	۱۹
نشه ای شیان دتاریخ په اوږدو کی	۲۱
د دوامفهوم او اصطلاحات	۲۸
دنشه ای موادو اثرات او طبقه بندی	۳۵
د نشه ای موادو د استعمال اسباب او دلایل	٤۱
د نشه یانو پیژندنه	٤٤
د نشه ای شیانو مخنیوی	٤۸
د مخدره موادو په مخنیوی کی د فامیل، ټولنی، حکومت، صحی او دینی تعلیم کردار.	۵۰
د ټولنی بدلون.	۵٤
د نشه ای شیانو په مخنیوی کی د ښوونکو رول.	٦۰
د نشه ای شیانو په باره کی د شاگردانو معلومات زیاتول...	٦٤
تربیوی طریقی	٦۸
د نشه ای شیانو د پرېښودلو علایم	۷۱
د نشه ای شیانو څخه د بدن دپاکیدو طریقی	۷٤
د ژوند پخوانی حالت ته راگرځیدنه	۷۷
دمعلوماتو پاڼی Fact sheets	۸۰

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه

لکه څنگه چه مخدره مواد د بشر په تاریخ کی اوږده سابقه لری همداسی یی د مخنیوی دپاره هم په مختلفو وختونو کښی اقدامات شوی دي، ولی متأسفانه چی دا مواد ځانته کله داسی شکل غوره کړی چی د ټول بشریت ژوند ته د تهدید سبب شي. ددی مثال نن په هیروئینو کی لیدای شو چی دا مشکل څومره زیات او خطرناك دی.

دا مشکل اوس بین المللی ستونځه ده او مخنیوی یی هم د یوه شخص، ډلی، ملت د وس نه وتلی کار دی. په پیښور کی د ملگرو ملتونو د مخدره موادو دکنترول نړیوال پروگرام (UNDCP) د افغانستان د پروگرام دفتر ډیر زیات کوښښونه کړیدی او کوی یی چی په افغانی ټولنه کی د مخدره موادو په ضد شعور را بیدار کړی او په دی لاره کی یی د ټولنی د مختلفو قشرونو خلك لکه ډاکتران، اجتماعی کارکوونکی، معلمان او علماء روزلی دی.

څرنگه چی د مخدره موادو مخنیوی د یوی او یا څو ادارو کار ندی نو ځکه (UNDCP) ددی کار د ښه پرمختگ دپاره په هغو خیریه موسساتو چی د افغانانو دپاره یی کار کاوه د گډون غږ وکړ.

د الوکالة الاسلامیة للاغاثة (اسرأ) موسسی چی د ډیر پخوا را هیسی یی افغانانو ته د ژوند په بیلو بیلو اړخونو کی ډول ډول مرستی کړیدی او اوس هم دوام ورکوی را وړاندی شوه او د مخدره موادو د مخنیوی په خاطر یی پدی برخه کی د ملگرو ملتونو سره اوږه په اوږه مبارزه پیل کړه.

اسرأ پدی برخه کی دوه کاله دمخه (٤٠) تنه روغتیایی کارکوونکی د مختلفو کمپونو څخه را غوند کړل او هغوی یی د قران،احادیثو اوطبی

لارښوونو په رڼا کې داسې وروزل چې هم کولای شي په هیروئینو اخته کسان تداوي او هم د مخدره موادو په ضد خلکو ته آگاهي ورکړي.

له هغې نه وروسته اسرأ د مختلفو کمپونو څخه دیني عالمان او د جامع مسجدونو خطیبان را غونډ کړل او هغه یې د قران او احادیثو په رڼا کې داسې وروزل چې خلکو ته ددې بلا نه د خلاصون دپاره او د مخدره موادو د مخنیوی په خاطر آگاهي ورکړي.

د (۱۹۹۳ - ۱۹۹٤) کلونو په اوږدو کې اسرأ د مخدره موادو د مخنیوی په پروگرامونو کې یو ځل بیا فعاله ونډه واخیسته او ډیر زیات دیني علمأ یې د ننگرهار او کنړ په ولایتونو کې په دې برخه کې وروزل.

ددې تر څنگ اسرأ اوUNDCP دا ضرور وگڼله چې ښوونکي هم باید په دې برخه کې وروزل شي ځکه چې د مخدراتو وبا نن سباد ډیرو مملکتونو په مکتبونو کې ډیره په تیزی خپریږي. استادان کولای شي چې شاگردان ددې بلا نه د خلاصون په خاطر داسې وروزي چې د مخدراتو ضد شعورپکې پیدا شي.

دا کار واقعاً مهم اقدام ؤ ځکه د مخدراتو څخه پاك مکتبونه کولای شي چې ټولنی ته صادق، با درد او با احساسه ځوانان تقدیم کړي.

پدې برخه کې کوښښ شوی دی او د محترمو ښوونکو دپاره یوه لنډه رساله ترتیب شوی ده او امید دی چې دا رساله به د مخدراتو څخه د پاکې افغاني ټولنې په جوړولو کې هر لوستونکي ته گټوره ثابته شي.

والسلام

ډاکتر میرزا جان

د اسرأ د صحی چارو مسئول